# د اِسمٰعیل

# عقیده

Download from:aghalibrary.cm

بِسمِ اللهِ الرحمن الرحيم

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ

وښایه مونږ ته لار نیغه

**نو آیا دوئ په قرآن کښې فکر نهٔ کوی،**

**یا د دوئ په زړونو باندې تالې لګیدلې دی؟**

(سورت ٤٧: ٢٤)

**الله پاک دې ستاسو زړهٔ کولاؤ کړی**

د اِسمٰعیل عقیده – دا د دوو ملګرو قیصه ده چې په خپل ژوند کښې د صحیح لار په لټون کښې وی. په هغوئ کښې یو دا یقین ساتی چې هغۀ دا لار موندلې ده. واقعی هغۀ دا موندلې ده؟

نو اوس چې هغوئ د انسانی فطرت اؤ روحانیت، عقیدې، نیک عملونو، دعا، معافئ اؤ د راتلونکی ژوند په اړه خبرې کوی، نو تاسو د هغوئ دا خبرې واؤرئ.

یو ملګرے چې ډیر لاپروا وی، د هغۀ په دې هیڅ پروا نۀ وی چې څوک په ژوند کښې په کومه لار روان دی. اؤ بل ملګرے دا خبره رد کوی چې هغه دې هر څۀ په حالاتو پریږدی اؤ انجام یې د صحیح لارې په ځائ، غلطه لار وی. آیا واقعی ستاسو عقیده څۀ فرق راوستلے شی؟

تاسو به حیران شئ چې هغوئ څنګه په یو نوې طریقې سره د یو بل نه سوالونه کوی، خپل خیالات بیانوی اؤ دَ خبرې نتیجې ته رسی.

# د اِسمٰعیل عقیده

زما نوم اِسمٰعیل دے. زۀ مسلمان یم اؤ یوې لوئې مسلمانې کورنۍ سره تعلق ساتم، اؤ په یو داسې وطن کښې ژوند کوم چرته چې عربی نۀ وئیلے کیږی. زۀ یو ځو کاله په سکول کښې اُستاذ وم. زما یو ډیر خوږ ملګرے دے چې نوم ئې عبدالله دے. مونږ دواړه په یو کلی کښې اوسیږو. مونږ د وړوکوالی ملګری یو. مونږ یوځائ لوئ شو، یوځائ مو لوبې وکړې، یوځائ سکول ته لاړو اؤ چې کله لږ لوئ شوو نو چهټیانې به مو اکثر یوځائ تیرولې. مونږ ډیر ښۀ ملګری یو، نو په دې وجه مونږ په آزادۍ یو بل سره د خپل ژوند د حالاتو یا د نورو څیزونو په حقله خبرې کولے شو. زما د روحانی څیزونو په حقله خبرې کول ډیر خوښ دی. اؤ د دې یو مثال زما اؤ زما د مسلمان ملګری عبدالله دا خبرې دی.

**اِسمٰعیل:** السلام علیکم، عبدالله!

**عبدالله:** وعلیکم السلام، اِسمٰعیله! څنګه ئې؟

**اِسمٰعیل**: الحمدالله، زۀ ښۀ یم. تۀ څنګه ئې؟

**عبدالله:** زۀ ښۀ یم، خو په ډیرو مسئلو کښې راګیر یم. داسې ښکاری چې زۀ همیشه په مسئلو کښې راګیر یم اؤ په دې نۀ پوهیږم چې څنګه دا مسئلې حل کړم.

**اِسمٰعیل:** دا خو ژوند سره تړلې خبرې دی، خو تۀ ماته د خپلو مسئلو په حقله ولې نۀ وائې؟ دا څۀ پته لګی کیدے شی چې زۀ ستا مرسته وکړے شم.

**عبدالله:** ډیره مننه! تا ته پته شته؟ کله چې زۀ ستا ژوند ته ګورم نو تۀ هر وخت خوشحاله ښکارې اؤ داسې ښکاری چې تا ته لکه زما په شان مسئلې نشته. نو د دې راز څۀ دے؟

**اِسمٰعیل**: عبدالله... یقیناً چې زما هم مسئلې شته، خو زۀ همیشه د الله پاک نه مرستې د پاره دعا غواړم...

**عبدالله:** همم... چې کله هم مونږ خبرې کوو، نو تۀ په کښې د الله پاک ذکر خامخا کوې... اِسمٰعیله، تۀ ډیر مذهبی ئې.

**اِسمٰعیل**: نه عبدالله، زۀ ډیر مذهبی نۀ یم، خو زۀ په الله پاک باندې یقین ساتم.

**عبدالله:** واقعی؟ هغه څنګه؟

**اِسمٰعیل**: ما د قرآن لوستلو سره د الله پاک په حقله نوره هم ازده کړه شروع کړې ده. د قرآن نه ما دا ازده کړل **چې ما له د هغه پیغمبرانو په شان ژوند تیرول پکار دی کوم** چې الله پاک رالیږلی وو.

**عبدالله:** تهٔ حضورِ پاک یادوې کنه؟

**اِسمٰعیل:** آؤ، مونږ له د حضورِ پاک د ژوند نه ازده کړه پکار ده، خو دې سره سره مونږ له د نورو **پیغمبرانو نه هم ازده کړه** پکار ده. یاد ساته چې قرآن مونږ ته دا ښودنه کوی چې مونږ له **د الله پاک په هغه نورو ځلیریشتو پیغمبرانو باندې هم ایمان ساتل پکار دی.**

**عبدالله:** بالکل... اؤ مونږ له په الله پاک، ملایکو، آسمانی کتابونو، رسولانو اؤ په ورځ د آخرت هم ایمان ساتل پکار دی.

**اِسمٰعیل:** بالکل، په قرآن کښې داسې وئیلے شوی دی،

**"نیکی دا نهٔ ده چې خپل مخونه د مشرق اؤ مغرب په طرف وګرځوئ، لیکن نیک سړے هغه دے چې په الله اؤ په ورځ د آخرت اؤ په ملایکو اؤ په کتابونو اؤ په نبیانو بې ایمان راوړے دے..."** (قرآن ۲ : ۱۷۷)

**عبدالله:** وګوره کنه، تا ته همیشه آیتونه یاد وی.

**اِسمٰعیل:** د مسلمانانو په طور مونږ له صرف د قرآن تلاوت کول نهٔ دی پکار. مونږ له پکار دی چې په قرآن ځان هم پوهه کړو. زما عربی دومره ښه نهٔ ده، خو

زۀ بیا هم د قرآن لوستل نۀ پرېږدم. کم از کم زۀ په خپله ژبه کښې د قرآن ترجمه لوستلے شم. ماته په قرآن کښې ډېر برکتونه ملاؤ شوی دی، **نو ما له د نور څۀ په حقله فکرمند کېدل نۀ دی پکار...**

**عبدالله:** آؤ، خو...

**اِسمٰعیل:** خو څۀ، عبدالله؟

**عبدالله:** خو اِسمٰعیله، داسې څۀ شته چې زۀ د هغې په حقله فکرمند یم. زۀ یرېږم چې د مرګ نه پس به ما سره څۀ کېږی.

**اِسمٰعیل:** ستا مطلب دے د آخرت په ورځ باندې؟

**عبدالله:** آؤ.

**اِسمٰعیل:** تۀ ولې یرېږې؟

**عبدالله:** اِسمٰعیله، تۀ ما د ډېرې مودې راسې پېژنې، اؤ تا ته پته ده چې زۀ تل دا کوشش کوم چې په ټولو حکمونو باندې عمل وکړم. زۀ پنځۀ وخته مونځ کوم، روژه نیسم اؤ غریبانانو له پیسې ورکوم. خلق ما ته د یو ښۀ سړی په نظر ګوری...

**اِسمٰعیل:** ډېر ښۀ. نو بیا مسئله څۀ ده؟

**عبدالله:** مسئله دا ده چې په ټولو اُصولو باندې د عمل کولو په باوجود بیا هم د څۀ کمے شته.

**اِسمٰعيل:** د څهٔ کمے دے، عبدالله؟

**عبدالله:** زما زړهٔ ته سکون نشته. کله چې زهٔ مړ شم، نو زهٔ نهٔ يم خبر چې جنت ته به ځم اؤ کهٔ دوزخ ته. نو زهٔ د مرګ نه يريږم.

**اِسمٰعيل:** ما ته پته ده... اؤ تا سره ځکه داسې کيږی چې تا لا تر اوسه پورې **نيغه لار** نهٔ ده موندلې. تا **ته پته شته چې نيغه لار څهٔ ده؟**

**عبدالله:** نيغه لار؟ دا څهٔ ته وائی؟

**اِسمٰعيل:** تا ووئيل چې تهٔ د مرګ نه يريږې ځکه چې تا ته پته نشته چې د مرګ نه پس به تهٔ چرته ځې اؤ په دې وجه هم يريږې چې تا ته دا هم پته نشته چې په ورځ د آخرت به تا سره څهٔ کيږی. نو زهٔ تا سره يو څو خبرې کولے شم؟

**عبدالله:** بالکل.

**اِسمٰعيل:** کهٔ چرې **مونږ ته د نيغې لارې پته وی**... نو **بيا مونږ له د راتلونکی وخت په حقله فکر کول نهٔ دی پکار.**

**عبدالله:** ستا څهٔ مطلب دے؟

**اِسمٰعيل:** مونږ روزانه پنځهٔ وخته مونځ کوو اؤ په هر يو مونځ کښې سورة الفاتحه وايو، ټيک ده کنه؟ په شپږم

آیت کښې وئیلے شوی دی، "وښایه مونږ ته لار نیغه." (قرآن ۱ : ٦) نو اوس راته ووایه چې مونږ د ورځې څو ځله الله تعالٰی نه دا دعا غواړو چې مونږ ته نیغه لار وښایه؟

**عبدالله:** دوه ځله سحر، څلور ځله ماسپښین، څلور ځله مازیګر، درې ځله ماښام اؤ څلور ځله ماسخوتن. نو د ورځې اوولس ځله.

**اِسمٰعیل:** نو مونږ روزانه اوولس ځله الله پاک نه دا دعا غواړو چې مونږ ته نیغه لار وښایه. تا ته پته شته چې نیغه لار څۀ ده؟ د دې ذکر په قرآن کښې شته. په دې کښې وئیلے شوی دی، "عیسیٰ په قیامت باندې د یقین راوستلو ذریعه ده نو تاسو په دې حقله شک مۀ کوئ اؤ په ما پسې روان شئ، **دا سمه نیغه لار ده**... اؤ څۀ وخت چې عیسیٰ ښکاره نخښې راوړې نو خلقو ته یې ووئیل چې تاسو له مې د حکمت خبرې راوړې دی اؤ ځکه راغلے یم چې تاسو ته ځنې خبرې صفا کړم چې تاسو په کښې اختلافونه کوئ. نو **د الله نه ویریږئ اؤ زما خبرې ومنئ.** بې شکه الله زما هم رب دے اؤ ستاسو هم

رب دے، نو د هغهٔ عبادت کوئ. هم **دا سمه نيغه لار ده.**" (قرآن ٤٣ : ٦١، ٦٣ – ٦٤)

**عبدالله:** اوهو، زما دا آيت نهٔ وو ياد...

**اِسمٰعيل:** خو الله پاک هم داسې وئيلی دی. دلته د نيغې لارې نه مطلب صرف د الله پاک دَ عبادت اؤ حمدو ثناء طرف ته اشاره نهٔ ده، بلکه د دې خبرې مطلب چې "ما پسې راځه" دا هم دے چې **مونږ له دَ عيسی مسيح پيروی کول پکار دی. دا نيغه لار ده.**

**عبدالله:** عيسیٰ مسيح پسې تلل؟؟؟ خو اِسمٰعيله... عيسیٰ مسيح خو صرف د عيسايانو د پاره دے، ولې داسې نهٔ ده؟

**اِسمٰعيل:** نه عبدالله داسې نهٔ ده! **عيسیٰ مسيح** صرف د عيسايانو د پاره نهٔ دے. **عيسیٰ مسيح د مسلمانانو د پاره هم دے.** عيسیٰ يو مسلمان دے!

**عبدالله:** دا نهٔ شی کيدے! تهٔ ټوقې کوې کنه؟

**اِسمٰعيل:** زهٔ ټوقې نهٔ کوم، عبدالله. زما په خيال تا ته د مسلمان د معنې پته نشته. ما ته ووايه چې اسلام څهٔ ته وائی؟

**عبدالله:** اسلام يو مذهب دے، اؤ مسلمان هغه کس ته وئيلے شی چې په دې مذهب باندې عمل کوی، ټيک ده؟

**اِسمٰعيل:** نه عبدالله صرف دا نۀ ده. د اسلام اؤ مسلمان مطلب دے خپل ځان **الله پاک ته سپارل يا خپل ځان د هغۀ تابع کول.** نو د قرآن په بنياد باندې زۀ دا يقين ساتم چې **عيسیٰ مسيح** هغه ذات دے چا چې **خپل ځان الله پاک ته وسپارلو.** مثال په طور عيسیٰ مسيح د الله پاک خادم دے. "هغۀ ووئيل، بې شکه زۀ د الله تعالیٰ خادم يم..."
(قرآن ۱۹: ۳۰)

**عبدالله:** ټيک ده، خو د خادم جوړيدو مطلب دا نۀ دے چې بيا به څوک تل د خپل مالک مرضی پوره کوی.

**اِسمٰعيل:** دا خبره رښتيا ده، خو په قرآن کښې دا هم وئيلے شوی دی، "مسيح (عيسیٰ) هيچرې دا شرم نۀ ګڼی چې د **الله تعالیٰ** خادم دې ورته ووئيلے شی اؤ نۀ مقربې فرښتې په دې کښې څۀ عار ګڼی. اؤ څوک چې د الله تعالیٰ عبادت شرم وګڼی اؤ غرور

وکړی نو الله به ټول خلق خپل ځان ته (د قيامت په ورځ) جمع کوی." (قرآن ٤ : ١٧٢)

د عيسیٰ مسيح اؤ د هغه خلقو په رويه کښې فرق ته وګوره ځوک چې خپل ځان د الله تابع نۀ کوی. عيسیٰ مسيح خپل ځان حليم کړو. هغه په دې باندې ډير غرور نۀ کوی چې د الله خادم شی. هغه دا هيڅ شرم نۀ ګڼی. زما دا هم ايمان دے چې عيسی مسيح به ضرور يو داسې کس وی چا چې خپل ځان الله ته سپارلے وو، په خاص طور باندې دَ هغه وخت نه کله داسې چې دَ هغۀ حواريان مسلمانان وبللے شول!. په قرآن کښې يو آيت دے چې په کښې داسې وئيلے شوی دی، "نو عيسیٰ چې کله له دوئ څخه کفر وليدو، نو وې وئيل، د الله په طرف (تللو کښې) ځوک زما مدد کوونکی دی؟ حواريانو ووئيل، مونږ د الله مددګار يو، مونږ په الله ايمان راوړے دے اؤ تۀ ګواه شه په دې چې بې شکه مونږ مسلمانان (فرمانبردار) يو." (قرآن ٣ : ٥٢)

**عبدالله:** نو آيا مسلمانان هم په عيسیٰ مسيح باندې ايمان راوړلے شی؟

**اِسمٰعیل:** آؤ، بالکل عبدالله. تا ته پته شته چې د قرآن د نازلیدلو نه پس ړومبی کوم مسلمان په عیسیٰ مسیح باندې ایمان راوړے وو؟

**عبدالله:** تا؟

**اِسمٰعیل:** ما؟ نه، عبدالله. د قرآن د نازلیدلو نه پس ړومبی مسلمان چې په عیسیٰ مسیح باندې ایمان راوړے وو نو هغه حضرت محمد وو! هغۀ مونږ ته په قرآن کښې د لس کم سلو نه زیاتو آیتونو کښې د عیسیٰ مسیح په حقله وئیلی دی.

**عبدالله:** نو ولې حضرت محمد مونږ ته د عیسیٰ مسیح په حقله دومره ډیر ذکر کړے دے؟

**اِسمٰعیل:** ځکه چې حضرت محمد د یو خبرداری ورکوونکی په طور راغلو. هغۀ مونږ د دوزخ د سختې سزا نه خبردار کړو چې د ګناه ګارانو د پاره ده اؤ هغۀ مونږ له د الله پاک د مینې په حقله پیغام راکړو.

**عبدالله:** همم... زما خو دا خیال دے چې الله پاک صرف خاص خلقو سره مینه کوی، خو ما ته پته نشته چې آیا زۀ د الله پاک د مینې لایق یم یا نه. د الله پاک مینې حاصلولو د پاره ما له کامل جوړیدل

پکار دی. اِسمٰعیله، زهٔ خپل پوره کوشش کوم چې کامل جوړ شم.

**اِسمٰعیل:** خو عبدالله، مونږ هیڅرې هم کامل نهٔ شو جوړیدلے. زهٔ هم کامل نهٔ یم. صرف الله پاک مونږ کامل جوړولے شی. اؤ ما دا د قرآن نه ازده کړی دی. په دې کښې وئیلے شوی دی، "اے هغو کسانو چې ایمان یې راوړے دے! تاسو د شیطان د قدمونو پیروی مهٔ کوئ اؤ چا چې د شیطان د قدمونو پیروی وکړه، نو بې شکه دا (شیطان) د بې حیایئ اؤ ناروا کارونو امر کوی. اؤ کهٔ په تاسو باندې د الله فضل اؤ د هغهٔ رحمت نهٔ وی (نو) په تاسو کښې هیڅوک هیڅکله هم (د بهتان له ګناه نه) پاک شوی نهٔ وے اؤ لیکن الله پاکوی چا لره چې وغواړی اؤ الله ښهٔ اؤریدونکے، ښهٔ عالم دے." (قرآن ٢٤ : ٢١)

**عبدالله:** که واقعی درته رښتیا ووایم نو زما نه هم ګناهونه شوی دی، خو بل طرف ته زهٔ نیک اؤ ښهٔ کارونه هم کوم. نو کله چې زهٔ مړ شم، اؤ کهٔ چرې زهٔ الله پاک ته دا وئیلے شم چې ما ډیر زیات ښهٔ کارونه کړی دی اؤ صرف یو څو ګناهونه رانه

شوی دی، نو بیا بې شکه چې الله پاک به په ما باندې فضل اؤ رحم وکړی اؤ ما به کامل کړی.

**اِسمٰعیل:** عبدالله، زما ملګریه... الله تعالیٰ پاک دے. "دغه الله هغه ذات دے چې نشته هیڅ حق معبود مګر هم دے دے، چې (حقیقی) بادشاه دے، ښهٔ پاک دے، سلامتی ورکوونکے (اؤ) امان ورکوونکے دے. نګهبان، ښهٔ غالب، ډیر عظمت واله، ډیر لویئ واله دے. الله پاک دے له هغو (شیانو) نه چې دوئ ئې ورسره شریکوی. (قرآن ۵۹: ۲۳)

**عبدالله:** خو ولې الله پاک به ما نهٔ قبلوی څهٔ؟

**اِسمٰعیل:** ولې نه، خو کهٔ چرې تهٔ بیخی پاک یې! لکه څنګه چې په دې تیر شوی آیت کښې مونږ واؤریدل، "اؤ کهٔ پر تاسو باندې د الله فضل اؤ د هغهٔ رحمت نهٔ وی (نو) په تاسو کښې هیڅوک هیڅکله هم (د بهتان له ګناه نه) پاک شوے نهٔ وے. (قرآن ۲٤: ۲۱) عبدالله، لکه څنګه چې ما مخکښې درته ووئیل چې الله پاک دے، نو هغه مونږ صرف هله قبلوی چې کله مونږ هم بیخی

پاک یو. خو آیا تهٔ دا یقین ساتې چې هر یو کس دومره پاک جوړیدلے شی؟

**عبدالله:** کیدے شی...

**اِسمٰعیل:** زما نهٔ دے خیال عبدالله. زهٔ به درله یو مثال درکړم، نو تهٔ به زما په خبره باندې پوهه شې. کله چې تهٔ زما کور ته راځې نو زهٔ همیشه تا له یو ګلاس تازه، صفا اوبهٔ درکوم. اؤ تا خو زهٔ په اوبو یشولو باندې لیدلے یم، نو تا ته پته وی چې دا اوبهٔ بیخی پاکې وی. اؤ تهٔ بغیر د څهٔ شک نه دا اوبهٔ څښې، ټیک ده کنه؟

**عبدالله:** آؤ بالکل.

**اِسمٰعیل:** خو کهٔ چرې تا ته معلومه شی چې ستا په ګلاس کښې لږ شان ګند غورزیدلے دے نو بیا؟ نو تهٔ به بیا هم هغه اوبهٔ څښې؟ اؤ څهٔ دمره ډیر ګند هم نه... صرف لږ شان ګند دے.

**عبدالله:** نه هیڅ چرې هم نه! زهٔ به هغه اوبهٔ نهٔ څښم!

**اِسمٰعیل:** ولې به نهٔ څښې؟

**عبدالله:** ځکه چې په هغې کښې ګند غورزیدلے دے! اؤ اوبهٔ ګنده شوی دی...

**اِسمٰعیل:** نو دغه شان کۀ چرې مونږ هر څومره ښۀ کارونه کړی دی، مونږ د ګناه سره خدائ پاک خواته نۀ شو راتلے، کۀ هغه وړه ګناه ولې نۀ وی. الله پاک به ګناهګارانو له سزا ورکوی.

**عبدالله:** ستا واقعی دا یقین دے چې الله پاک دومره سخت دے؟

**اِسمٰعیل:** آؤ. د قرآن په مطابق، "بې شکه شان دا دے چې هغه څوک چې خپل رب ته راشی، په دې حال کښې چې کافر وی، نو بې شکه د دۀ لپاره دوزخ دے، دے به په دې کښې نۀ مری اؤ نۀ به ژوندون کوی." (قرآن ۲۰: ۷٤)

**عبدالله:** دا خو ویروونکې خبره ده!

**اِسمٰعیل:** نو مونږ صرف د الله پاک په فضل اؤ رحمت سره پاکیدلے شو.

**عبدالله:** اوس پوهه شوم...

**اِسمٰعیل:** تا ته پته شته چې د الله پاک رحمت څوک دے؟ مونږ ته وئیلے شوی دی چې د عیسیٰ مسیح د پیدا کیدو نه مخکښې الله پاک بی بی مریم له یوه فرښته ولیږله. الله پاک د فرښتې په وسیله وفرمائیل، "اؤ د دې لپاره چې مونږ دے (عیسیٰ) د خلقو

لپاره نخښنه وګرځوو اؤ له خپل (الله) جانب نه رحمت. اؤ دغه یو فیصله شوے کار دے." (قرآن ۱۹: ۲۱)

**عبدالله:** ما د چا نه اؤریدلی دی چې عیسیٰ مسیح صرف یهودیانو د پاره راغلے دے، دا خبره رښتیا ده؟

**اِسمٰعیل:** عبدالله وګوره چې په دې آیت کښې څۀ وئیلے شوی دی. په دې ټکو باندې غور وکړه "د خلقو لپاره نخښنه". په دې کښې دا نۀ دی وئیلے شوی چې د یهودیانو د پاره نخښنه، ټیک ده کنه؟ د دې مطلب دے د هر چا د پاره... د ټولو خلقو د پاره.

**عبدالله:** ښه اِسمٰعیله، زۀ ستا نه نورې پوښتنې هم لرم. چې کله هم زۀ ګورم چې تا ته څۀ مسئلې وی، نو تۀ همیشه هغه ډیرې ښې طریقې سره حل کوې.

**اِسمٰعیل:** نه عبدالله. زۀ په خپل طاقت سره خپلې مسئلې نۀ شم حل کولے. خو الله پاک هغه چا له د کامیابۍ ورکولو وعده کړې ده څوک چې په عیسیٰ مسیح ایمان راوړی اؤ د هغۀ پیروی کوی. په قرآن کښې وئیلے شوی دی، "نو مونږ (الله) هغو کسانو ته د خپل دښمن په خلاف قوت ورکړو چې (په عیسیٰ

يې) ايمان راوړے وو، نو دوئ غالبه شول. (قرآن ٦١: ١٤) نو عبدالله... زما د پاره دښمن شيطان اؤ د هغهٔ منونکی دی. هغوئ زمونږ په ژوند کښې په مونږ باندې د هر قسمه مسئلو په ذريعه حمله کوی. خو الحمدالله، زهٔ په دې ژوند کښې په ټولو مسئلو باندې غالب راتلے شم ځکه چې عيسیٰ مسيح زما مرسته کوی.

**عبدالله:** په عيسیٰ مسيح باندې د ايمان راوړلو اؤ هغهٔ پسې د تلو دا خبرې د يو مسلمان په حيث زما د پاره ډيرې ناآشنا دی. اؤ دا زما د پاره ډيره عجيبه ده چې يو مسلمان دَ هغهٔ په حقله دومره خبرې کوی.

**اِسمٰعيل:** زما نهٔ دے خيال چې دا نا‌آشنا خبرې دی، ځکه چې د عيسیٰ مسيح د ژوند په حقله په قرآن کښې ډيرې واقعې موجودې دی. د دې نه علاوه، د مسلمانانو په طور مونږ له ټول قرآن لوستل پکار دی. نو بيا ضروری ده چې مونږ د عيسیٰ مسيح په حقله ټول آيتونه ولولو. دا د يو مسلمان د پاره ښه نهٔ ده چې هغه د عيسیٰ مسيح په حقله آيتونه ونهٔ لولی. عبدالله ما ته پته ده چې تهٔ قرآن لولې، داسې ده کنه؟

**عبدالله:** آؤ بالکل، زۀ دا لولم، خو دا په عربۍ کښې دے اؤ عربی زما ژبه نۀ ده نو ځکه زۀ په دې نۀ پوهیږم. ما سره هغه قرآن نشته چې زمونږ په ژبه کښې يې ترجمه شوې وی.

**اِسمٰعیل:** ولې نشته؟ تۀ د کتابونو دوکان ته لاړ شه نو هلته به تا ته ستا په خپله ژبه کښې ترجمه شوے قرآن ملاؤ شی. ما سره هغه ترجمه شوے قرآن شته چې ترجمه يې دَ حکومت اؤ عالمانو له خوا نه تصدیق شوې ده.

**عبدالله:** تا د عیسیٰ مسیح په حقله دومره پوهه څنګه حاصله کړې ده؟

**اِسمٰعیل:** ما سره ځکه د عیسیٰ مسیح په حقله دومره معلومات شته چې حضرت محمد په قرآن کښې د عیسیٰ مسیح په حقله ډیر ذکر کړے دے. نو چا چې ما ته د عیسیٰ مسیح په حقله ښودنه وکړه هغه کس حضرت محمد دے.

**عبدالله:** خو د کله نه چې حضرت محمد راغلے دے، نو بیا مونږ ته د عیسیٰ مسیح په حقله د ازده کړې څۀ حاجت دے؟

**اِسمٰعيل:** عبدالله... داسې ډېر مسلمانان شته چې هغوئ د عيسىٰ مسيح په حقله لوستنه نۀ کوی ځکه چې هغوئ دا سوچ کوی چې حضرت محمد آخرى پيغمبر دے نو اوس هغوئ له د عيسىٰ مسيح يا د نورو پيغمبرانو د ژوند په حقله نوره ازده کړه نۀ ده پکار. خو حضرت محمد د عيسىٰ مسيح په ژوند کښې ډېره دلچسپى اخستله. نو ځکه هغۀ مونږ ته د عيسىٰ مسيح په حقله ډېر څۀ وئيلى دى، ځکه چې عيسىٰ مسيح د نورو پيغمبرانو نه ډېر زيات بدل دے.

**عبدالله:** بدل دے؟ تۀ په څۀ وجه دا سوچ کوې چې عيسىٰ مسيح دومره خاص دے؟ ځکه چې تۀ ما ته د دې په حقله ډېرې خبرې کوې چې مونږ له خامخا د عيسىٰ مسيح د ژوند په حقله ازده کړه پکار ده اؤ هغۀ پسې تلل پکار دى. هغه په څۀ وجه بدل دے؟

**اِسمٰعيل:** ما ته دا ښنګه معلومه ده چې عيسىٰ مسيح دومره خاص دے؟ نو عبدالله... حضرت محمد مونږ ته وئيلى دى چې الله پاک بى بى مريم له فرښتې وليږلې چې هغې له دا زيرے ورکړى چې عيسىٰ

مسیح به په دې جهان اؤ په راتلونکی جهان کښې ډېر مخور وی. په قرآن کښې وئیلے شوی دی، "کله چې ملایکو ووئیل: اے مریمې! بې شکه الله تا ته له خپل طرف نه د یوې کلمې زیرے درکوی، چې د هغهٔ نوم مسیح عیسیٰ زوے د مریم دے. چې په دنیا اؤ آخرت کښې به ډېر مخور وی اؤ له مقربینو څخه به وی." (قرآن ۳: ٤٥)

**عبدالله:** ما ته داسې ښکاری چې تهٔ د عیسیٰ مسیح د لویۍ بیانولو په وجه د هغهٔ اؤ د نورو پیغمبرانو په مینځ کښې فرق راولې.

**اِسمٰعیل:** عبدالله، دا زهٔ نهٔ یم چې د لویۍ بیانولو سره عیسیٰ مسیح د نورو نه جدا کوم. بلکه دا الله پاک په خپله کړی دی. د قرآن په مطابق الله پاک فرمائیلی دی، "دا رسولان دی، مونږه د دوئ نه ځینې په ځینو باندې غوره کړی دی، له دوئ نه ځینې هغه دی چې الله ورسره خبرې کړی دی. اؤ د دوئ د بعضو یې درجې اوچتې کړی دی. اؤ مونږه د مریمې زوئ عیسیٰ ته ښکاره معجزې ورکړې دی اؤ مونږ هغه په روح القدس سره قوی کړے دے." (قرآن ۲: ۲٥۳) الله پاک عیسیٰ مسیح سره نیغ په

نيغه خبرې کړی دی. الله پاک هغهٔ ته خپله مهرباني داسې څرګنده کړه چې هغهٔ له يې معجزې ورکړې اؤ هغه يې روح القدس سره قوی کړے دے. د الله پاک فرښتو ووئيل چې عيسیٰ مسيح به په دنيا اؤ آخرت کښې ډير مخور وی اؤ له مقربينو څخه به وی. نو الله پاک په خپله د عيسیٰ مسيح درجه اوچته کړې ده.

**عبدالله:** اِسمٰعيله، ما ته د دې آيتونو بالکل پته نهٔ وه. نو د مسيح څهٔ مطلب دے؟

**اِسمٰعيل:** د دې مطلب دے "مسح کړے شوے". تا ته پته شته چې ډيره موده مخکښې چې کوم بادشاهان وو، نو د بادشاه جوړيدو د پاره به د هغوئ په سر تيل اچولے کيدل؟ د عيسیٰ مسيح د خاص جوړيدو يوه وجه دا ده چې الله پاک هغهٔ له مسيح لقب ورکړے دے. د دې آيت مطلب دے چې الله پاک عيسیٰ مسيح مسح کړے دے... د تيلو سره نه بلکه د روح القدس سره!

**عبدالله:** همم، دا ډيره دلچسپه خبره ده. فرض کړه چې زهٔ په عيسیٰ مسيح ايمان لرم. نو ولې ما ته به عيسائی نهٔ شی وئيلے؟

**اِسمٰعیل**: عبدالله، تهٔ د څومره مودې داسې ما پیژنې؟ مونږ د څومره مودې داسې ملګری یو؟ مونږ د ډیرې مودې نه ملګری یو، ټیک ده کنه؟ اؤ تهٔ همیشه ما د یو ښهٔ مسلمان په طور پیژنې. ما ته یاد دی کله چې مونږ واړهٔ وو، نو یوځائ به جماعت تلو. یوځائ مو روژې نیولې وې. په وړوکی اختر کښې به تهٔ مونږ کره راتلې اؤ زهٔ به تاسو کره درتلم. نو صرف په عیسیٰ مسیح باندې ایمان راوړلو اؤ هغهٔ په حقله د پیژندګلو په وجه ما ته هیڅوک هم عیسائی نهٔ وائی، ټیک ده کنه؟ زهٔ یو مسلمان یم: تا ته دا پته ده... د دې نه علاوه، عیسیٰ مسیح کله هم خلقو ته دا نهٔ دی وئیلی چې هغوئ عیسایان جوړ شی. عیسیٰ مسیح مونږ ته صرف دا وائی چې هغهٔ پسې روان شو. لکه څنګه چې په قرآن کښې وئیلے شوی دی، "اؤ کله چې عیسیٰ له ښکاره دلیلونو سره راغے، وې وئیل: یقیناً ما تاسو ته حکم راوړے دے اؤ د دې لپاره (راغلے یم) چې تاسو ته ځینې هغه (احکام) بیان کړم چې تاسو په هغو کښې اختلاف کوئ. نو تاسو له الله نه ووېرېږئ اؤ زما اطاعت کوئ." (قرآن ٤٣ : ٦٣)

**عبدالله:** نو بيا ولې په دنيا کښې نن ځينې خلقو ته عيسايان وئيلے شی؟

**اِسمٰعيل:** زما خبره واؤره عبدالله، عيسیٰ مسيح اؤ د هغهٔ مريدانو کله هم خپل ځان ته عيسايان نهٔ دی وئيلی. بلکه کله چې عيسیٰ مسيح آسمان ته لاړو نو د هغې نه ډير کالونه پس په بل وطن کښې د هغوئ مخاليفونو هغوئ ته عيسايان وئيل شروع کړل.

**عبدالله:** تا ته څنګه پته ده؟

**اِسمٰعيل:** تهٔ په خپله په قاموس کښې د دې په حقله معلومات کولے شې.

**عبدالله:** اِسمٰعيله، تا ته د عيسیٰ مسيح په حقله د ډير څهٔ پته ده، اؤ تهٔ هميشه دا غواړې چې د الله پاک په حقله خبرې وکړې، اؤ زمونږ عيسايانو ګاونډيانو سره هم د دې په حقله خبرې کوې. زهٔ ځينې مسلمانان پيژنم چې هغوئ عيسايانو سره خبرې کول نهٔ غواړی. زهٔ به په دې حيرانيدم چې تهٔ څنګه دومره په کولاؤ زړهٔ اؤ آزادئ سره مختلفو قسمه خلقو سره خبرې کوې، په خاص طور باندې عيسايانو سره، ځکه چې ما خو دا اؤريدلی وو چې

د مسلمانانو اؤ عیسایانو خپلو کښې دومره نۀ لګی...

**اِسمٰعیل:** ښۀ مسلمانانو له د عیسایانو عزت کول پکار دی ځکه چې هغوئ د آسمانی کتابونو منونکی دی. د حضرت محمد به عیسایان خوښ وو. هغۀ خو د عیسایانو تعریف هم کړے دے...

**عبدالله:** اوه واقعی، آیا دا په قرآن کښې وئیلے شوی دی؟

**اِسمٰعیل:** آؤ، د قرآن په یو آیت کښې دا وئیلے شوی دی، "اؤ خامخا لازماً به تۀ له مومنانو سره په دوستۍ کښې تر ټولو خلقو زیات نزدې هغه کسان مومې چې وئیلی یې دی: مونږ عیسایان یو. دا ځکه چې په دوئ کښې په رښتیا عبادت ګذاره عالمان اؤ زاهدان دی اؤ دا ځکه چې واقعاً دوئ تکبر نۀ کوی." (قرآن ۵: ۸۲) تا ته پته شته عبدالله، کۀ چرې مونږ دې آیت ته وګورو، نو د دې مطلب دے چې دا خلق حلیمان دی.

**عبدالله:** تۀ څنګه دا وئیلے شې چې عیسایان حلیمان دی؟

**اِسمٰعیل:** زما مطلب دا دے، کۀ چرې هغوئ رښتینی عیسایان وی نو بیا به هغوئ په عیسیٰ مسیح باندې د ایمان راوړلو په وسیله خپل ژوند د الله پاک د

اختيار لاندې تيروی ځکه چې هم دا دَ هغوئ دَ پاره دَ الله پاک دَ طرف نه رحم دے. نن صبا ډېر خلق تکبر کوی. هغوئ دا سوچ کوی چې په خپل کوشش اؤ طاقت سره جنت ته تلے شی. هغوئ سوچ کوی چې د ښهٔ کارونو، په نورو خلقو باندې د رحم، غریبانانو له د خوراک ورکولو، روژې نیولو، قربانیانو اؤ داسې نورو مذهبی کارونو په وسیله هغوئ جنت ته تلے شی.

**عبدالله:** خو په ښهٔ کارونو کولو کښې څهٔ بده خبره ده؟...

**اِسمٰعیل:** زهٔ ستا خبره منم، عبدالله. ښهٔ کارونه کول اؤ د خلقو مرسته کول ډېر ښهٔ دی، خاص طور باندې تر څو چې مونږ په دې دنيا کښې ژوندی يو. خو زما دا ایمان دے چې مونږ دا ښهٔ کارونه د رشوت په طور نهٔ شو استعمالولے چې الله پاک ته ووايو مونږ جنت ته بوځی.

**عبدالله:** ستا څهٔ مطلب دے؟ زهٔ الله پاک له رشوت نهٔ ورکوم...

**اِسمٰعیل:** کهٔ چرې مونږ ښهٔ کارونه دې د پاره کوو چې جنت ته لاړ شو، د دې مطلب دے چې مونږ دا خپل کارونه د يو قسم رشوت په طور استعمالوو اؤ

الله پاک ته وايو چې مونږ جنت ته بوځی. خو کۀ چرې مونږ ښۀ کارونه کوو نو دې سره سره مونږ ډېر ګناهونه هم کوو. نو بيا ولې الله پاک له زمونږ ښۀ کارونه قبلول پکار دی؟ د دې په حقله سوچ وکړه... زمونږ نه ډېر ګناهونه کيږی، ولې داسې نۀ ده؟ اؤ مونږ روزانه ګناهونه کوو، ټيک ده کنه؟

**عبدالله:** آؤ... ځينې وخت...

**اِسمٰعيل:** عبدالله، يقيناً چې زمونږ نه ګناهونه کيږی. مونږ روزانه ګناه کوو، اؤ بيا بيا يې کوو! کۀ چرې زمونږ دا يقين وی چې ګناه نۀ کوو نو مونږ خپل ځان له دوکه ورکوو!

**عبدالله:** خو زۀ اوس هم نۀ پوهيږم چې زمونږ ښۀ کارونه ولې زمونږ مرسته نۀ شی کولے.

**اِسمٰعيل:** ټيک ده. زۀ به درته ووايم چې زمونږ ښۀ کارونه څنګه زمونږ مرسته نۀ شی کولے. آيا تۀ دا خبره منې چې د ښو کارونو په وسيله غيرايمانداران جنت ته نۀ شی تلے؟

**عبدالله:** کيدے شی.

**اِسمٰعيل:** بالکل. په قرآن کښې وئيلے شوی دی، "د غيرايماندارانو عملونه د هغه ايرو په شان دی چې

په سخته بادی ورځ کښې پرې تیز باد راوالوځی، دوئ به له خپلو کړو عملونو نه په هیڅ شی قادره نشی. هم دغه ډیره لرې ګمراهی ده." (قرآن ١٤: ١٨) نو د هغوئ په حقله دې څۀ خیال دے څوک چې خپل ځانونه ښۀ ګڼی اؤ دا سوچ کوی چې هغوئ ښۀ کارونه کوی؟ آیا د هغوئ ښۀ کارونه به د هغوئ مرسته وکړے شی؟

**عبدالله:** بالکل. ولې نه؟

**اِسمٰعیل:** عبدالله، مونږ د دې په حقله غلط هم کیدے شی چې زمونږ کارونه ښۀ دی اؤ کۀ نه. په قرآن کښې مونږ له خبردارے راکړے شوے دے، "ووایه، چې آیا زۀ تاسو ته د هغه چا پته وښایم چې په خپل عمل کښې ډیر تاوانیان پاتې دی؟ دا هغه کسان دی چې د هغوئ کوششونه د دنیا په ژوند پسې برباد شول اؤ په دې ګمان کښې پراتۀ وو چې ګڼې هغوئ ډیر ښۀ کارونه کوی." (قرآن ١٨: ١٠٣ – ١٠٤)

**عبدالله:** همم...

**اِسمٰعیل:** مونږ څنګه دا یقین کولے شو چې زمونږ فیصله یوه صحیح فیصله ده؟ مونږ کیدے شی دا سوچ کوو

چې مونږ ښهٔ يو، خو په اصل کښې نهٔ يو. مونږ کيدے شی دا سوچ کوو چې مونږ ښهٔ کارونه کوو خو په اصل کښې زمونږ کارونه بې فائدې وی.

**عبدالله:** خو کهٔ چرې مونږ هغه کارونه کوو د کومو چې مونږ ته پته وی چې ښهٔ دی، لکه دعاګانې کول؟ يقيناً الله پاک به زمونږ دعاګانې په ښُو کښې حسابوی.

**اِسمٰعيل:** ضروری نهٔ ده. کيدے شی چې زمونږ دعاګانې هم د الله پاک په نزد د هغهٔ د مرضئ په مطابق نهٔ وی. په قرآن کښې داسې وئيلے شوی دی، "اؤ ځينې انسانان د عذاب د پاره داسې دعا غواړی لکه چې هغه د نيکئ دعا غواړی. اؤ انسان ډير تلوار کوونکے دے." (قرآن ۱۷ : ۱۱)

**عبدالله:** خو زهٔ اوس هم دا سوچ کوم چې زمونږ ښهٔ کارونه به زمونږ مرسته کوی.

**اِسمٰعيل:** عبدالله، ګناه يو ډير خراب څيز دے. که چرې مونږ هر څومره ښهٔ کارونه کوو، زمونږ ټول ښهٔ کارونه کله هم د ګناه نه درانهٔ نهٔ شی کيدے. الله پاک د ګناه سزا ورکوی. په قرآن کښې وئيلے شوی دی، "اؤ کهٔ چرې الله تعالیٰ خلق د دوئ د

ظلم په وجه نیولے نو هغۀ به د زمکې په مخ هیڅ سادار نۀ وو پریښے، لیکن هغه دوئ ته یو مقرره وخت پورې مهلت ورکوی. بیا هر کله چې د دوئ وخت راشی نو نۀ به یو ساعت وروستو کیدے شی اؤ نۀ به وړاندې کیدے شی." (قرآن ١٦: ٦١)

**عبدالله:** تا لږ ساعت مخکښې ووئیل چې د څناورو قربانئ مونږ نۀ شی بچ کولے. نو بیا تۀ ولې هر کال دا کوې؟

**اِسمٰعیل:** زۀ قربانی د دې مقصد د پاره کوم چې غریبانانو له غوښه ورکړم. زۀ د غریبانانو خلقو مرسته کول غواړم چې هغوئ ته هم د خوراک د پاره لږه غوښه ملاؤ شی. تا ته خو پته ده چې غوښه څومره گرانه ده اؤ زما یقین دے چې داسې ډیر غریب خلق شته څوک چې غوښه نۀ شی اخستلے. نو زۀ هغوئ سره د مینې په وجه داسې کوم.

**عبدالله:** نو تۀ څکه قربانی کوې چې د الله پاک نه د دې اجر حاصل کړې؟

**اِسمٰعیل:** نه عبدالله. یو آیت دے چې په هغې کښې د اُوښانو د قربانئ ذکر شوے دے. په دې کښې

وئیلے شوی دی، "الله تعالٰی ته نهٔ خو د دې ځناور غوښه رسیږی اؤ نهٔ یې وینه، بلکه هغهٔ ته ستاسو صرف پرهیزګاری رسیږی". (قرآن ۲۲ : ۳۷)

**عبدالله:** ټیک ده، کهٔ چرې د مرګ نه پس مونږ د خپلو ښُو کارونو په وجه جنت ته نهٔ شو تلے، نو کیدے شی چې جنت ته د تلو د پاره یوه بله لار وی. د ځینې خلقو دا عقیده ده چې اول به هغوئ دوزخ ته ځی، خو هلته به صرف د لږ وخت د پاره وی بیا به هغوئ د دوزخ نه وویستلے شی.

**اِسمٰعیل:** هغوئ ځنګه د دوزخ نه وتلے شی؟

**عبدالله:** هغوئ دا عقیده لری چې په دې دنیا کښې یې کوم ښهٔ کارونه کړی دی نو دا به د هغوئ مرسته کوی. هغوئ په دې هم یقین لری کهٔ چرې د مرګ نه پس خلق هغوئ د پاره دعا کوی نو بیا زر د دوزخ نه وتلے شی.

**اِسمٰعیل:** آیا دا په قرآن کښې وئیلے شوی دی؟

**عبدالله:** ما ته پته نشته... خلق هم دا خبره کوی.

**اِسمٰعیل:** عبدالله تا ته پته شته، داسې ډیر خلق دی چې هغوئ صرف په هغه خبرو باندې یقین ساتی کومې چې ورته نور خلق کوی. ما د هغوئ نه داسې

قسمه خبرې اؤریدلې دی، "اوه زما ملګری دا وئیلی وو، زما ملګری هغه وئیلی وو، یا زما مسلمان استاذ دا خبره کړې وه اؤ داسې یې وئیلی دی..."

خو د مسلمانانو په طور مونږ له صرف په هغه خبرو یقین ساتل پکار دی کومې چې په قرآن کښې وئیلے شوی دی.

**عبدالله:** زۀ بخښنه غواړم. نو قرآن کښې دَ دې په حقله څۀ وئیلے شوی دی؟

**اِسمٰعیل:** لکه څنګه چې تا ووئیل، د ځینو خلقو دا عقیده ده چې هغوئ به صرف لږ وخت د پاره په دوزخ کښې پاتې کیږی. خو په قرآن کښې داسې وئیلے شوی دی، "البته چا چې څۀ بدی وکړه اؤ هغه د هغۀ ګناهونو د هر طرف نه راګیر کړو نو هم داسې خلق دوزخیان دی. اؤ هغوئ به په دې کښې همیشه وی." (قرآن ۲: ۸۱) د دې مطلب دے چې هغوئ به همیشه په دوزخ کښې وی، اؤ ګوره عبدالله... د هغوئ ښۀ کارونه هم د هغوئ مرسته نۀ شی کولے!

**عبدالله:** زما یو مسلمان ملګرے دے اؤ هغه اکثر د هغه خلقو د پاره دعا کوی څوک چې مړۀ شی. اؤ هغه وائی چې د هغۀ دعاګانې د دوزخ د سزا نه بچ کیدو کښې د هغوئ مرسته کولے شی. اِسمٰعیله، د دې په حقله ستا څۀ خیال دے؟

**اِسمٰعیل:** زما په خیال دا به ښه وی چې مونږ په قرآن کښې وګورو چې څۀ وئیلے شوی دی. په قرآن کښې یو آیت کښې داسې راغلی دی، "اؤ چا چې د هغوئ پیروی کوله وبه وائی، کاش! کۀ مونږ ته د واپس تلو یوه موقع راکړے شوه نو مونږ به هم ترې داسې ویزاره شو لکه چې مونږ نه ویزاره شوی دی. دغه شان به الله دوئ ته د دوئ ناکاره عملونه د حسرت اؤ د پښیمانئ د پاره وړاندې کوی. اؤ په هیڅ چل به د اور نه بهر وتلے نۀ شی." (۲: ۱٦۷) نو په دې خبره باندې پوهیدل ډیر مهم دی چې کوم خلق دوزخ کښې دی هغوئ سره به دویمه موقع نۀ وی. هغوئ به خپل عملونه په پښیمانئ سره یادوی.

**عبدالله:** ما ته مخکښې د دې پته نۀ وه. ما دا سوچ کولو چې زمونږ ښۀ عملونه دوزخ نه وتلو کښې زمونږ

مرسته کولے شی. په تیره شوې هفته کښې ما خپلو ګاوندیانو سره خبرې کولې اؤ هغوئ وئیل چې د هغوئ دا یقین دے چې حضرت محمد به هغوئ د دوزخ نه بچ کړی.

**اِسمٰعیل:** لکه څنګه چې ما درته ووئیل، داسې ډیر مسلمانان شته څوک چې صرف د نورو خلقو په وئیلو شوو خبرو باندې یقین ساتی. د یو مسلمان په طور مونږ له په هغه خبرو یقین ساتل پکار دی کومې چې په قرآن کښې وئیلے شوی دی. حضرت محمد اکثر خپل ځان ته د خبرداری ورکوونکے وئیلی دی. د قرآن په مطابق، الله پاک حضرت محمد له حکم ورکړے وو چې خپل ځان ته داسې ووائی. په دې کښې وئیلے شوی دی، "ورته ووایه زما خو د خپل ذات د نفع نقصان هم هیڅ اختیار نشته، مګر څومره چې الله تعالٰی ته منظوره وی اؤ کۀ ما ته د غیبو خبرې معلومې وې نو ځان له به مې ډیرې ښیګړې راټولې کړې وې اؤ هیڅ نقصان به راته نۀ رسیدو. زۀ خو بس ویرونکے اؤ زیرے ورکوونکے یم، هغه چا ته چې زما خبره منی." (قرآن ۷: ۱۸۸)

په يو بل آيت کښې داسې وئيلے شوی دی، "بې شکه مونږ تهٔ په رښتينی دين سره زيرے ورکوونکے اؤ ويره ورکوونکے جوړ کړے ليږلے يې. اؤ تا نه به د دوزخيانو په حقله هيڅ تپوس پوښتنه نهٔ شی کيدے." (قرآن ۲ : ۱۱۹)

نو کهٔ چرې مونږ په دې آيت باندې صحيح پوهه شوی يو نو د دې مطلب دے چې د حضرت محمد هيڅ ذمه واری نشته چې هغه د دوزخيانو مرسته وکړی.

**عبدالله:** همم... خو کهٔ چرې زهٔ دا خپلو ګاونډيانو ته ووايم، نو هغوئ به ډير غُصه شی!

**اِسمٰعيل:** غُصه شی؟ کهٔ چرې هغوئ ته دا معلومه شی چې دا په قرآن کښې وئيلے شوی دی نو يقيناً چې هغوئ به نهٔ غُصه کيږی. د دې نه علاوه، دا زما خبرې نهٔ دی. بلکه دا الله پاک حضرت محمد ته وئيلی دی. په دې "مونږ" ټکی باندې غور وکړه. د دې مطلب دے الله پاک. نو په دې آيت کښې، الله پاک حضرت محمد سره خبرې کولې، ټيک ده کنه؟

**عبدالله:** آؤ، زما په خيال ستا خبره صحيح ده...

**اِسمٰعیل:** بهر حال، فرض کړه چې ګاونډیان غُصه شی، نو بیا د دې مطلب دے چې هغوئ الله پاک ته غُصه دی اؤ څۀ چې په قرآن کښې وئیلے شوی دی نو د هغې منلو د پاره تیار نۀ دی.

**عبدالله:** نو اِسمٰعیله، بیا ځینې خلق ولې دا یقین ساتی چې کۀ چرې هغوئ د جهاد په دوران کښې مړۀ شی نو سیدها به جنت ته ځی؟

**اِسمٰعیل:** ښه عبدالله، ستا د خبرې په مطابق د جهاد څۀ مطلب دے؟

**عبدالله:** د جهاد مطلب دے د کافرانو خلاف جنګ کول.

**اِسمٰعیل:** اؤ تا ته پته شته چې کافران څۀ ته وائی؟

**عبدالله:** کافران بت پرسته اؤ هغه خلق دی چې په الله پاک ایمان نۀ ساتی.

**اِسمٰعیل:** ستا خبره صحیح ده عبدالله. د دې مطلب دے غیر ایمانداران. اؤ تا ته پته شته چې غیر ایمانداران څوک دی؟

**عبدالله:** ما ته پته ده چې ځینې مسلمانان دا عقیده لری چې یهودیان اؤ مسیحان کافران دی. ستا څۀ خیال دے؟

**اِسمٰعیل:** د قرآن په مطابق، د عیسیٰ مسیح مریدانو به خپل ځان ته مسلمانان وئیل. مریدانو به وئیل، "مونږ د الله مدد ګار یو. مونږ په الله ایمان راوړے دے اؤ تهٔ په دې خبره ګواه اوسه چې مونږ مسلمانان یو (د الله حکمونو ته غاړه ایښې ده). (قرآن ۳: ۵۲) نو څنګه د عیسیٰ مسیح پیروکارو ته بې دینه وئیلے شی؟

**عبدالله:** ما ته پته نشته. کیدے شی هغوئ دا سوچ کوی چې د عیسیٰ مسیح منونکی د دریوو خدایانو عبادت کوی.

**اِسمٰعیل:** ما ته پته نشته چې هغوئ څنګه دا سوچ کولے شی چې د عیسیٰ مسیح منونکی کافران دی. په قرآن کښې وئیلے شوی دی چې الله پاک د عیسیٰ مسیح منونکی د کافرانو نه جدا کوی. په حقیقت کښې الله پاک د عیسیٰ مسیح د منونکو درجې په کافرانو اؤ بې دینو باندې ډیرې اوچتوی. په قرآن کښې داسې وئیلے شوی دی، "کله چې الله وفرمائیل، اے عیسیٰ زهٔ به تا واپس واخلم اؤ خپل طرف ته به دې راوخیژوم اؤ د کافرانو (د تهمت) نه به دې پاک کړم. اؤ ستا پیروی کوونکی خلق

به تر قيامته پورې د منکرانو د پاسه کړم... (قرآن ۳: ۵۵)

**عبدالله:** همم. زما په خيال ما کله هم د دې په حقله داسې سوچ نۀ وو کړے.

**اِسمٰعيل:** ايمانداران اؤ کافران د يو بل برعکس دی. الله پاک فرمائيلی دی چې د عيسیٰ مسيح منونکی ايمانداران دی، دوئ بې دينه کافران نۀ دی. نو ګوره د عيسیٰ مسيح منونکی کافران نۀ شی کيدلے.

**عبدالله:** کۀ چرې داسې وی نو بيا کۀ يو مسلمان د عيسیٰ مسيح يو منونکے قتل کړی اؤ دا سوچ کوی چې هغۀ يو کافر قتل کړو، نو هغۀ سره به څۀ کيږی؟

**اِسمٰعيل:** په قرآن کښې مونږ ته وئيلے شوی دی چې کله څوک يو ايمانداران ووژنی نو هغۀ سره به څۀ کيږی. په دې آيت کښې داسې وئيلے شوی دی، "اؤ هغه څوک چې مومن په قصده (اؤ ارادې) سره قتل کړی، نو د هغۀ سزا جهنم دے. چې هميشه به په هغې کښې وی اؤ الله په دۀ باندې غضب کړے دے اؤ په دۀ يې لعنت کړے دے. اؤ د دۀ

لپاره یې بیخی لوئ عذاب تیار کړے دے." (قرآن ٤ : ٩٣)

**عبدالله:** خو کۀ چرې یو کس ته دا معلومه نۀ وی چې هغه یو ایماندار قتل کوی نو بیا؟

**اِسمٰعیل:** بیا هم هغۀ یو کس په ناجائزه طریقې سره قتل کړے دے. اؤ د قرآن په مطابق، کۀ چرې دا یوه غلطی وه، نو بیا به هم هغه د یو کس د قتل کولو سزا زغمی. (قرآن ٤: ٩٢) بهر حال، آیا تا ته معلومه ده چې په قرآن کښې یو آیت کښې وئیلے شوی دی چې دا ضروری نۀ ده چې یو کس جهاد کولو سره جنت ته لاړ شی؟

**عبدالله:** څۀ؟ تۀ رښتیا وایې؟

**اِسمٰعیل:** آؤ. په دې آیت کښې داسې وئیلے شوی دی، "آیا تاسو دا ګمان کوئ چې تاسو به جنت ته داخل شئ، حال دا چې لا تر اوسه الله په تاسو کښې هغه کسان نۀ دی معلوم کړی چې جهاد یې کړے دے، اؤ د دې لپاره چې هغه صبر کوونکی معلوم کړی. (قرآن ٣: ١٤٢)

**عبدالله:** ما خو اؤریدلی دی چې په قرآن کښې داسې آیتونه شته چې په کښې د خلقو د قتلولو په حقله خبرې

شوې دي. مثلاً، هغه سړے قتل کړئ ځکه چې هغه ډير خراب سړے دے. يا، هغه سړی قتل کړئ ځکه چې هغوئ کافران دي. ستا څۀ خيال دے؟

**اِسمٰعيل:** همم... راځه چې په قرآن کښې يو څو آيتونه وګورو کوم چې د الله په نوم باندې د خلقو د قتلولو د پاره غلطې طريقې سره استعمال شوی دي. يو آيت کښې داسې وئيلے شوی دی، "نو تاسو مشرکان وژنئ چرته چې تاسو هغوئ ومومئ اؤ دوئ نيسئ اؤ د دوئ محاصره کوئ." (قرآن ٩: ٥)

بل آيت کښې وئيلے شوی دی، "کله چې تاسو له کافرانو سره مخامخ شئ، نو اول کار د دوئ د څټونو وهل دی". (قرآن ٤٧ : ٤)

نو مسئله دا ده چې اکثر د آيتونو نه صرف لږه حصه وئيلے کيږی. اؤ کۀ چرې ټول آيت هم ووئيلے شی خو بيا هم د آيت په صحيح مطلب باندې سوچ اؤ فکر نۀ کوی اؤ دا نۀ ګوری چې د دې نه مخکښې يا ورپسې آيت کښې څۀ وئيلے شوی دی. نو کۀ چرې مونږ دا آيتونه بلکل هم

داسې واخلو، نو بيا به د ټولو نه اول مونږ د خپلو ځانونو په وژلو شروع کوو.

**عبدالله:** ستا څۀ مطلب دے؟

**اِسمٰعيل:** مونږ ټول ګناه ګار يو، ټيک ده کنه؟ ځينې وخت زمونږ د ټولو په زړونو کښې شک اؤ بې اعتقادی راځی. اؤ ځينې وخت مونږ نورو څيزونو له دَ خدائ پاک نه هم زيات اهميت ورکوو نو دا هم بد پرستی ده، ټيک ده کنه؟ نو کۀ چرې يو کافر غير ايماندار يا بت پرست دے، نو بيا خو ځينې وخت مونږ هم کافران يو. خو د نورو خلقو د وژلو په ځائ، زما په خيال دا به ښه وی چې مونږ په خپل ځان کښې ګناه اؤ بې اعتقادی ووژنو.

**عبدالله:** فرض کړه چې ستا يو ملګرے دے اؤ هغه په الله پاک ايمان نۀ ساتی. نو بيا به تۀ څۀ کوې اِسمٰعيله؟

**اِسمٰعيل:** زۀ به هغوئ د پاره دعا کوم. زۀ به هغوئ د پاره دعا کوم چې راواوړی اؤ په الله پاک ايمان راوړی. زۀ به دې د پاره هم دعا کوم چې هغوئ په عيسیٰ مسيح کښې د خدائ پاک رحمت اؤ بخښنه وپيژنی اؤ هغوئ د هغۀ (عيسیٰ) منونکی جوړ شی.

په یو آیت کښې داسې وئیلے شوی دی، "هغه کسانو ته ووایه چې ایمان یې راوړے دے چې هغو کسانو ته دې بخښنه کوی چې د الله د ورځو اُمید نۀ لری. د دې لپاره چې دے (الله په خپله) یوې ډلې ته د هغوئ د کړو کارونو بدله ورکړی". (قرآن ٤٥: ١٤)

**عبدالله:** نو تۀ به ولې هغوئ د پاره دا دعا کوې چې د عیسیٰ مسیح منونکی جوړ شی؟

**اِسمٰعیل:** دعا به ولې نۀ کوم؟ الله پاک د عیسیٰ مسیح منونکو سره د ډېرو ښکلو څیزونو وعده کړې ده.

**عبدالله:** واقعی؟ لکه د کومو څیزونو؟

**اِسمٰعیل:** زۀ به درته ووایم. زۀ به د قرآن نه تا له یو مثال درکړم چې په کښې د الله پاک د ځینو هغه وعدو ذکر شوے دے کومې چې یې د عیسیٰ مسیح منونکو سره کړې دی. په دې کښې وئیلے شوی دی، " کله چې الله وفرمائیل، اے عیسیٰ زۀ به تا واپس واخلم اؤ خپل طرف ته به دې راوخیژوم اؤ د کافرانو نه به دې پاک کړم. اؤ ستا پیروی کوونکی خلق به تر قیامته پورې د منکرانو د پاسه کړم..." (قرآن ٣: ٥٥)

**عبدالله:** دا ډېره زبردسته خبره ده چې په دې کښې وئیلے شوی دی چې د عیسیٰ مسیح دَ منونکو رتبه اوچته وه، ځکه چې الله پاک هغوئ د غیرایماندارانو د پاسه کړی وو. خو زما په خیال الله پاک دا خبره د عیسیٰ مسیح د هغه مریدانو په حقله کوی کوم چې د هغۀ د ژوند په دوران کښې وو، د اوسنو مریدانو په حقله دا نۀ دی وئیلے شوی.

**اِسمٰعیل:** عبدالله، دا څنګه کیدے شی؟ په دې ټکو باندې ښۀ غور وکړه "تر قیامته پورې". د قیامت ورځ لا نۀ ده راغلې، ټیک ده کنه؟ نو د دې مطلب دے چې دا وعده د هغه ټولو د پاره ده څوک چې نن هم د عیسیٰ مسیح پیروی کوی. د الله پاک وعده نن هم د عیسیٰ مسیح منونکو د پاره ده. اؤ تا ته پته شته چې غیرایماندارانو سره به څۀ کیږی، زما مطلب دے هغه خلقو سره څوک چې په عیسیٰ مسیح ایمان راوړل نۀ غواړی؟

**عبدالله:** ما ته پته نشته...

**اِسمٰعیل:** په ورپسې آیت کښې د دې په حقله وئیلے شوی دی. په دې کښې داسې وئیلے شوی دی، "نو چا چې کفر غوره کړے دے هغوئ له به په دنیا اؤ

آخرت دواړو کښې سخته سزا ورکوم". (قرآن ۳: ۵٦)

نو عبدالله، په اولنی آیت کښې الله پاک د عیسیٰ مسیح منونکو سره یوه زبردسته وعده کړې ده، خو په دویم آیت کښې الله پاک د عیسیٰ مسیح نه منکرو خلقو سره یوه ډیره ویرونکې وعده کړې ده. نو زۀ په دې خبره نۀ حیرانیږم چې الله پاک په دې دنیا کښې تل په مسئلو حل کولو کښې زما مرسته کوی، ځکه چې لکه څنګه په دې آیت کښې وئیلے شوی دی نو زۀ هم داسې په الله پاک ایمان ساتم. اؤ زما په دې هم ایمان دے چې الله پاک به په آخرت کښې هم زما مرسته کوی... په دې وجه نه چې ګنې زۀ ښۀ یا بد سړے یم، بلکه په دې وجه چې الله پاک د هغه خلقو د مرستې وعده کړې ده څوک چې په عیسیٰ مسیح ایمان راوړی. نو ځکه زۀ د هغۀ په وعدو باندې ایمان اؤ یقین ساتم!

**عبدالله:** زۀ غواړم چې د عیسیٰ مسیح په حقله نورې خبرې هم واؤرم، خو اوس پکار دی چی زۀ لاړ شم. زۀ

بخښنه غواړم، اِسمٰعيله. زۀ مسترى خواته ورځم چې خپل موټرسائيکل سم کړم.

**اِسمٰعيل:** هيڅ خبره نۀ ده عبدالله. زۀ به هم اوس لاړ شم. زۀ ډاکخانې ته ورځم چې وګورم زما د پاره څۀ ډاک خو نۀ دے راغلے. خو عبدالله وروره... چې کله درسره وخت وى، نو دا هير نۀ کړې چې د کتابونو دوکان ته لاړ شې اؤ په خپله ژبه کښې ترجمه شوے قرآن واخلې. په هغې کښې د عيسیٰ مسيح په حقله آيتونه معلوم کړه. نو چې مونږ کله بيا ملاؤ شو هغه آيتونو ته به په شريکه وګورو. زۀ به بيا تاسره ملاؤ شم. السلام عليکم.

**عبدالله:** وعليکم السلام.

❖꧁꧂❖

د تیر شوی ملاقات نه یو څو ورځې پس عبدالله اؤ زۀ بیا ملاؤ شو. دا د جمعې ورځ وه، نو مونږ د ماسپښین مونځ د پاره جماعت ته لاړو. د مونځ نه پس مونږ هوټل ته د ډوډۍ خوړلو د پاره لاړو. زما د کار نه چُهټی شوې وه نو ځکه مونږ ناست وو اؤ لږ ساعت د پاره مو خبرې وکړې.

**اِسمٰعیل:** نو عبدالله. ستا موټرسائیکل سم شو کۀ نه؟

**عبدالله:** ما له پکار دی چې خپل موټرسائیکل د پاره نوی بریکونه واخلم.

**اِسمٰعیل:** ولې بریکونه یې کار نۀ کوی څۀ؟

**عبدالله:** تا ته خو پته ده چې زما موټر سائیکل ډیر زوړ دے. نو پکار دی چې بریکونه په کښې بدل کړم. په زوړ موټر سائیکل کښې خو کارونه راځی کنه...

**اِسمٰعیل:** ښه ښه. دا راته ووایه چې تا قرآن واخستلو؟

**عبدالله:** الحمدالله ما واخستلو. ما ته دا د اسلامی کتابونو په دوکان کښې ملاؤ شو. دا ډیر ښائسته دے. لیکل یې ډیر ښکلی دی. کله چې تۀ زما کور ته راشې نو زۀ به یې درته وښایم.

**اِسمٰعیل:** ډیر ښۀ!

**عبدالله:** نو اِسمٰعیله... ما ځان سره دا یو ښو خبرې لیکلې دی. ما چې د عیسیٰ مسیح په حقله کوم آیتونه موندل نو هغه مې لیکلی دی، خو ما سره دومره وخت نهٔ وو چې ټول آیتونه مې راویستلی وو.

**اِسمٰعیل:** هیڅ خبره نهٔ ده. ما ته ووایه تا کوم آیتونه وموندل؟

**عبدالله:** زهٔ بخښنه غواړم ځکه چې په تیرو شوو یو څو ورځو کښې زهٔ ډیر مصروفه وم. په اصل کښې ما صرف دویم سورت ولوستلو. خو دا هغه آیتونه دی کوم چې ما د عیسیٰ مسیح په حقله وموندل: سوت ۲: ۸۷، ۲: ۱۳۶ اؤ ۲: ۲۵۳.

**اِسمٰعیل:** دا خو ښهٔ خبره نهٔ ده چې تا سره د نورو آیتونو موندلو د پاره وخت نهٔ وو، خو خیر دے، مونږ به په شریکه چرته بل وخت دا وګورو.

**عبدالله:** زهٔ درسره وعده کوم چې زهٔ به نور آیتونه هم ګورم.

**اِسمٰعیل:** ما هم د عیسیٰ مسیح په حقله د آیتونو یو فهرست جوړول شروع کړی دی. نو تهٔ زما دا فهرست ځان سره ولې نهٔ اخلې؟ نو په دې طریقه تهٔ دې آیتونو ته کتلے شې اؤ بیا مونږ په دې باندې خبرې کولے شو.

**نو دا د آیتونو هغه فهرست وو کوم چې ما عبدالله له ورکړو:**

**د عیسیٰ مسیح په حقله آیتونه**

**قرآن**

عیسیٰ مسیح د مریم زوئ دے ۲: ۸۷، ۲۵۳، ۳: ٤٥

عیسیٰ مسیح، مسیح دے (المسیح)

سورت ۳: ٤٥، ٤: ١٥٧، ١٧١

عیسیٰ مسیح د الله پاک خادم دے. سورت ٤: ١٧٢، ١٩: ٣٠

عیسیٰ مسیح یو پیغمبر دے. سورت ١٩: ٣٠

عیسیٰ مسیح د الله رسول دے.

سورت ٤: ١٥٧، ١٧١، ٥: ٧٥

عیسیٰ مسیح د الله پاک کلام دے.

سورت ۳: ٤٥، ٤: ١٧١

عیسیٰ مسیح د حقیقت کلام دے. سورت ١٩: ٣٤

عیسیٰ مسیح روح الله دے. سورت ٦٦: ١٢

عیسیٰ مسیح یوه نخښنه ده (د ټولو خلقو د پاره)

سورت ١٩: ٢١، ٢١: ٩١

عیسیٰ مسیح یو ګواه دے. سورت ٤: ١٥٩، ٥: ١١٧

عیسیٰ مسیح د الله پاک د طرف نه رحمت دے.

سورت ١٩: ٢١

عیسیٰ مسیح ډیر (عزتمند) دے. سورت ۳: ٤٥

عیسیٰ مسیح صادق دے. سورت ۳: ٤٦، ٦: ۸٥

عیسیٰ مسیح یو برکت دے. سورت ۱۹: ۳۱، ٤۳: ٥۹

عیسیٰ مسیح معجزې وکړې. سورت ۲: ۸۷

عیسیٰ مسیح د روح القدس په رهنمایئ کښې وو.

سورت ۲: ۲٥۳

عیسیٰ مسیح د یوې پیغلې نه پیدا شو.

سورت ۳: ٤۷، ۱۹: ۲۰ – ۲۱

عیسیٰ مسیح خلق د حقیقت طرف ته راوستل.

سورت ۳: ٤۹

عیسیٰ مسیح خلقو له شفا ورکړه. سورت ۳: ٤۹

عیسیٰ مسیح مړی راژوندی کړل. سورت ۳: ٤۹

عیسیٰ مسیح د غیرایماندارانو د پاره مړ شو. سورت ۳: ٥٥

عیسیٰ مسیح د مړو نه بیا راژوندے کړے شو.

سورت ۳: ٥٥

عیسیٰ مسیح د مرګ اؤ بیا راژوندی کیدو نه پس آسمان ته وخیژولے شو. سورت ۳: ٥٥

عیسیٰ مسیح ژوند ورکوونکے دے. سورت ٥: ۱۱۰

عیسیٰ مسیح پاک دے. سورت ۱۹: ۱۹

عیسیٰ مسیح به بیا رائحی. سورت ٤۳: ٦۱

عیسیٰ مسیح ته د راتلونکی وخت پته ده.

سورت ۴۳: ۶۱، ۶۳

خلق به د عیسیٰ مسیح پیروی کوی. سورت ۴۳: ۶۳

**اِسمٰعیل:** نو عبدالله ما خو دا آیتونه ځان سره لیکلی وو.

**عبدالله:** ستا په نسبت ما ډیرې لږې حوالې لیکلې دی.

**اِسمٰعیل:** هیڅ خبره نهٔ ده عبدالله. ډیره موده مخکښې ما ته هم د عیسیٰ مسیح په حقله د آیتونو پته نهٔ وه. ما لږه لږه ازده کړه کوله اؤ آخر دې حد ته ورسیدم چې په قرآن کښې مې د عیسیٰ مسیح په حقله د لس کم سلو نه زیات آیتونه وموندل.

**عبدالله:** اؤ رښتیا کله چې ما په دوکان کښې قرآن اخستلو نو زهٔ اکبر سره ملاؤ شوم.

**اِسمٰعیل:** اکبر؟ کوم یو اکبر؟

**عبدالله:** زمونږ د سکول ملګرے اکبر. هغه په کلاس کښې زمونږ دَ ټولو مشر وو. تا ته هغه یاد دے؟

**اِسمٰعیل:** آؤ، ما ته اکبر یاد دے. هغه ډیر ښهٔ هلک وو.

**عبدالله:** کله چې زهٔ اکبر سره ملاؤ شوم نو هغهٔ زما نه تپوس وکړو چې زهٔ قرآن ولې اخلم. نو ما ورته ووئیل چا اِسمٰعیل ماته وئیلی دی چې په قرآن کښې د عیسیٰ مسیح په حقله ټول آیتونه پیدا کړم، اؤ کهٔ ما ته په

خپله ژبه کښې دَ قرآن ترجمه ملاؤ شی نو آسانه به
وی. ما هغۀ سره صرف یو څو خبرې وکړې. هغۀ
هم د عیسیٰ مسیح د ژوند په حقله د یو څو خبرو
ذکر وکړو.

**اِسمٰعیل:** نو هغۀ درته څۀ ووئیل؟

**عبدالله:** هغۀ ووئیل کۀ چرې زۀ د عیسیٰ مسیح د ژوند په حقله نور معلومات حاصلول غواړم، نو بیا زۀ کتاب مقدس ولې نۀ اخلم اؤ په هغې کښې د عیسیٰ مسیح د ژوند په حقله لوستنه ولې نۀ کوم؟

**اِسمٰعیل:** هغۀ درته واقعی هم داسې ووئیل؟

**عبدالله:** آؤ، خو زۀ داسې کول نۀ غواړم. ما اؤریدلی دی چې بائبل (کتاب مقدس) د اعتبار لائق نۀ دے دا بدل شوے دے. نو مونږ دا نۀ شو پیژندلے چې په دې کښې کومې خبرې رښتیا دی اؤ کومې خبرې بدلې شوې دی.

**اِسمٰعیل:** نو اکبر څنګه وو؟ ښۀ خو دے کنه؟

**عبدالله:** د هغۀ د خبرو نه خو داسې معلومیده چې هغه بالکل ښۀ دے.

**اِسمٰعیل:** ما ته یاد دی چې د امتحان نه مخکښې به مونږ دریوو واړو څنګه په کور کښې یوځائې سبق یادولو.

اؤ په روژو کښې به زۀ اکثر د هغوئ کور ته د ماښام ډوډئ د پاره تلم. ډير ښکلے وخت وو. خو اوس مې د ډيرې مودې نه هغه نۀ دے ليدلے. زۀ غواړم چې چرته هغۀ سره ملاؤ شم. خو ما ته پته نشته چې اوس هغه چرته اوسيږی، تا ته پته شته؟

**عبدالله:** نه. ما ته هم پته نشته. ما ترې تپوس ونۀ کړو چې چرته اوسيږی.

**اِسمٰعيل:** دا خو دې ښۀ ونۀ کړل...

**عبدالله:** ښه اِسمٰعيله... تا سره بائبل (کتاب مقدس) شته کۀ نه؟

**اِسمٰعيل:** آؤ، ما سره بائبل (کتاب مقدس) شته. اؤ ما دا لوستلے هم دے.

**عبدالله:** څۀ؟ تا بائبل (کتاب مقدس) لوستلے دے؟

**اِسمٰعيل:** ولې په لوستلو کښې څۀ دی؟ تا ته خو پته ده چې د مشهورو خلقو، لکه د عظيمو مشرانو، ليکوالو، اداکارانو اؤ د موسيکارانو د ژوند په حقله لوستل زما عادت دے. کله چې زۀ د يو کس د ژوند په حقله پيژندګلو حاصلول غواړم، نو زۀ هميشه د کتابونو دوکان ته ځم اؤ د هغوئ په حقله کتاب اخلم اؤ هغه لولم.

**عبدالله:** خو کتاب مقدس صرف د عیسایانو د پاره دے، اؤ د دې نه علاوه ډېرو خلقو ما ته وئیلی دی چې په کتاب مقدس کښې داسې ډېرې خبرې دی چې هغه رښتیا نهٔ دی...

**اِسمٰعیل:** عبدالله، زما په خیال داسې نهٔ ده. ما انجیل شریف لوستلے دے اؤ په دې کښې چې د عیسیٰ مسیح په حقله کومې قیصې دی نو ما په هغې کښې هیڅ بده خبره نهٔ ده موندلې.

**عبدالله:** خو ما اؤریدلی دی چې کتاب مقدس بدل شوے دے.

**اِسمٰعیل:** کهٔ چرې خلق دا سوچ کوی چې کتاب مقدس بدل شوے دے نو دا ډېره بده خبره ده. زما په خیال تهٔ په هغه کسانو کښې نهٔ یې شامل څوک چې وائی کتاب مقدس بدل شوے دے، ځکه چې څوک هم دا سوچ کوی چې کتاب مقدس بدل شوے دے نو هغه د الله پاک بې عزتی کوی.

**عبدالله:** د الله پاک بې عزتی کوی؟ تهٔ ولې داسې وائی؟

**اِسمٰعیل:** تا ته پته ده چې الله پاک ډېره موده مخکښې خپل کلام په ډېرو پیغمبرانو باندې نازل کړے دے. کهٔ

چرې مونږ دا سوچ کوو چې کتاب مقدس بدل شوے دے، نو مونږ دا سوچ کوو چې الله پاک کمزورے دے. ستا څۀ خيال دے چې الله پاک دومره کمزورے دے چې هغه د خپل رالېږلی کلام حفاظت هم نۀ شی کولے؟

**عبدالله:** نه هغه کمزورے نۀ دے. خو په کتاب مقدس کښې بدلون راوستلو نه به خلق د څۀ په وجه منع شی؟

**اِسمٰعيل:** زما نۀ دے خيال چې الله پاک به خلق په خپل کلام کښې بدلون راوستلو ته پرېږدی. په قرآن کښې وئيلے شوی دی، "اؤ کۀ د زمکې په مخ باندې دا ټولې ونې قلمونه شی اؤ سمندر سياهی جوړه شی اؤ د دې د مدد د پاره اووۀ سمدرونه نور راشی، بيا به هم د الله تعالیٰ خبرې ختمې نۀ شی، بې شکه الله زبردست د حکمتونو خاوند دے". (قرآن ۳۱ : ۲۷)

په دې آيت کښې وئيلے شوی دی چې الله تعالیٰ د حکمتونو خاوند دے، نو ځکه د هغۀ خبرې ختميدلے نۀ شی. نو زما دا ايمان دے چې الله تعالیٰ دومره طاقتور اؤ حکمت واله ذات دے چې

هغه د خپل کلام حفاظت کولے شی. د دې نه علاوه په قرآن کښې بیا بیا دا وئیلے شوی دی چې هیڅوک د هغهٔ خبرې بدلولے نهٔ شی. په یو آیت کښې داسې وئیلے شوی دی، "اؤ تهٔ لوله کومه وحی چې درته د خپل رب د کتاب په ذریعه راغلې ده. د هغهٔ د خبرو هیڅ بدل پیدا کیدے نهٔ شی. د هغهٔ نه بغیر به هیچرې تهٔ پناه بیا نهٔ مومې". (قرآن ١٨: ٢٧)

په یو بل آیت کښې وئیلے شوی دی، "اؤ ستا د رب خبره د رښتینوالی اؤ د انصاف په اعتبار سره کامله ده، هیڅوک د هغهٔ حکمونه بدلولے نهٔ شی. اؤ هغه هر څهٔ اؤری اؤ په هر څهٔ پوهه دے". (قرآن ٦: ١١٥)

**عبدالله:** تهٔ کتاب مقدس ډیر لولې؟

**اِسمٰعیل:** آؤ. زهٔ قرآن اؤ کتاب مقدس دواړه لولم. د دې نه علاوه، په دې کښې زما د پاره هیڅ بدی نشته چې زهٔ کتاب مقدس لولم. کتاب مقدس یو ښهٔ کتاب دے. په دې کښې زمونږ د پاره د الله پاک د مینې په حقله ډیرې خبرې شوې دی. قرآن مونږ ته ښودنه کوی چې ولې مونږ له کتاب مقدس

لوستل پکار دی. په قرآن کښې په يو ځائ کښې داسې راغلی دی، "هغۀ په تا دا کتاب په حقه نازل کړے دے چې د هغه ټولو کتابونو تصديق کوی چې د دې نه وړاندې راغلی دی. اؤ هغۀ د دې نه وړاندې تورات اؤ انجيل د خلقو د هدايت د پاره نازل کړی دی. اؤ د حق اؤ باطل بيلوونکے کتاب يې راليږلے دے. نو بې شکه څوک چې د الله د حکمونو منلو نه انکار کوی، هغوئ ته به سخت عذاب ورکولے شی..." (قرآن ٣: ٣ – ٤)

په يو بل آيت کښې داسې وئيلے شوی دی، "بيا مونږ په دغې پيغمبرانو پسې عيسیٰ زوئ د مريم راوليږلو، چې د هغه کتاب تصديق يې کولو چې له دې نه وړاندې وو يعنی تورات، اؤ مونږ هغۀ له انجيل ورکړو چې په هغې کښې هدايت اؤ رڼا وه، اؤ دا کتاب تصديق کوونکے وو د تورات چې له دې نه وړاندې نازل شوے وو، اؤ دا د پرهيزګارانو د پاره هدايت اؤ نصيحت وو". (قرآن ٥: ٤٦)

**عبدالله:** خو ما دا سوچ کولو چې کتاب مقدس صرف د يهوديانو اؤ عيسانو د پاره وو.

**اِسمٰعیل:** نه عبدالله. دا د هر چا د پاره دے. یاد ساته چې په دې کښې وئیلے شوی دی چې تورات اؤ انجیل د خلقو د هدایت د پاره دی، د دې مطلب دے د ټولو خلقو د پاره.

**عبدالله:** خو ما ته اوس هم دا ډیره عجیبه ښکاری چې یو مسلمان انجیل لولی.

**اِسمٰعیل:** زما نۀ دے خیال چې انجیل لوستل د یو مسلمان د پاره عجیبه خبره ده. زما دا ایمان دے حضرت محمد ته هم دا پته وه چې په انجیل کښې څۀ وئیلے شوی وو.

**عبدالله:** تا ته د دې څنګه پته ده؟

**اِسمٰعیل:** ځکه چې هغۀ وئیلی دی چې انجیل هدایت اؤ رڼا ده، اؤ دا د وړاندې کتاب تصدیق کوونکے دے. اؤ دا د پرهیزګارانو د پاره هدایت اؤ نصیحت دے. د دې په حقله سوچ وکړه، کۀ چرې هغۀ ته پته نۀ وه چې په انجیل کښې څۀ دی نو بیا هغۀ څنګه دا وئیلے شول چې په دې کښې هدایت اؤ رڼا ده.

**عبدالله:** ښه، نو چې هغۀ ته د انجیل په حقله پته وه نو ضروری نۀ ده چې د دې هم دا مطلب وی چې هغه مونږ ته هم د دې د لوستلو د پاره وائی.

**اِسمٰعیل:** زما دا ایمان دے کۀ چرې حضرت محمد نۀ غوښتل چې مونږ انجیل ولولو نو بیا به هغۀ داسې خبرې نۀ وې کړې. خو هغۀ داسې وکړل. هغۀ مونږ له ډاډګیرنه راکړه چې انجیل دې ولولو. د قرآن په مطابق الله پاک هغۀ ته وفرمائیل چې داسې ووایه، "ورته ووایه، اے اهلِ کتابو! ستاسو هیڅ دین نشته تر څو تاسو تورات، انجیل اؤ هغه کتابونه نافذ نۀ کړئ، چې په تاسو باندې ستاسو د رب د طرف نه نازل شول..." (قرآن ٥: ٦٨)

عبدالله لکه څنګه چې ما تا ته ووئیل، چې د مشهورو خلقو د ژوند په حقله لوستل زما ډیر خوښ دی. نو په کتاب مقدس کښې د خدائ پرستو خلقو په حقله لوستل زما ډیر خوښ وی. دا زما د پاره ډیره د برکت خبره ده. زما د زبور شریف لوستل هم ډیر خوښ دی.

**عبدالله:** زبور چې په حضرت داؤد باندې نازل شوے وو؟

**اِسمٰعیل:** آؤ، ولې هغه نۀ شم لوستلے څۀ؟ زبور شریف هم الله پاک نازل کړے دے. واؤره چې په قرآن کښې څۀ وئیلے شوی دی، "اؤ ستا رب ته ښۀ معلوم دی څۀ چې په آسمان اؤ زمکه کښې موجود

دی. اؤ مونږ ځینې نبیانو له په ځینې باندې فضیلت ورکړے دے. اؤ مونږ داؤد له زبور ورکړے دے." (قرآن ۱۷: ۵۵)

په بل آیت کښې داسې وئیلے شوی دی، "اؤ مونږ په زبور اؤ تورات کښې لیکلی دی، د زمکې وارثان به زما نیکان بندیان وی." (قرآن ۲۱: ۱۰۵)

**عبدالله:** د ځینې مسلمانانو دا عقیده ده چې تورات شریف، زبور شریف اؤ انجیل شریف په قرآن کښې دی. اِسمٰعیله ستا څۀ خیال دے؟

**اِسمٰعیل:** ما تورات شریف، زبور شریف اؤ انجیل شریف لوستلی دی، اؤ ما هم کتلی دی چې انجیل شریف په قرآن کښې شته.

**عبدالله:** واقعی؟ تۀ ما ته دا ښودلے شې؟

**اِسمٰعیل:** بالکل. خو د ټولو نه اول تا له د انجیل په معنی باندې ځان پوهول پکار دی. عبدالله، تا ته پته شته چې د دې څۀ مطلب دے؟

**عبدالله:** زما په خیال دا هغه کتاب وو چې په کښې هغه پیغام شامل وو کوم چې الله تعالٰی عیسیٰ مسیح له ورکړے وو؟

**اِسمٰعيل:** آؤ، د عيسیٰ مسيح تعليم انجيل شريف دے، خو عبدالله، د دې نه علاوه نور هم ډير څۀ دی. د انجيل شريف اصلی معنی "زيرے" دے. اؤ زيرے د عيسیٰ مسيح په حقله پيغام دے، اؤ څۀ چې الله تعالیٰ د عيسیٰ مسيح په وسيله زمونږ د پاره کړی دی، يعنی الله تعالیٰ عيسیٰ مسيح راوليږلو چې مړ شی اؤ د مړو نه بيا راژوندے شی نو د مرګ نه پس به مونږ هم جنت ته بوتلے شو، نو دا زيرے دے. دا د انجيل شريف مطلب دے! اؤ دا په قرآن کښې دے. دا آيت ياد ساته، ""کله چې الله وفرمائيل، اے عيسیٰ زۀ به تا واپس واخلم اؤ خپل طرف ته به دې راوخيژوم اؤ د کافرانو (د تهمت) نه به دې پاک کړم. اؤ ستا پيروی کوونکی خلق به تر قيامته پورې د منکرانو د پاسه کړم... (قرآن ٣: ٥٥)

نو دا د انجيل شريف پيغام دے. د دې مطلب دے چې زيرے په اصل کښې د دې په حقله دے چې څنګه الله تعالیٰ زمونږ د پاره د دوزخ نه د بچ کيدو اؤ جنت ته د تلو لار تياره کړه.

**عبدالله:** الله پاک زمونږ د بچ کولو د پاره لار تیاره کړه؟ زۀ پوهه نۀ شوم. د دې آیت دې خبرې سره څۀ تعلق دے؟

**اِسمٰعیل:** د آیت په دې ټکو باندې سوچ وکړه، "زۀ به ستا پیروی کوونکی خلق د پاسه کړم". دا د چا په حقله خبرې کیږی؟

**عبدالله:** دَ عیسی مسیح دَ پیروکارو په حقله؟

**اِسمٰعیل:** بلکل ټیک دې ووئیل. اؤ دلته دا هم وئیلے شوی دی چې الله تعالی به دوئ دَ پاسه کړی، نو دَ چا نه به یې د پاسه کړی؟

**عبدالله:** ما ته پته نشته.

**اِسمٰعیل:** د کافرانو د پاسه – د ګناه ګارانو د پاسه، عبدالله. په دې کښې دا نۀ دی وئیلے شوی چې د ګناه ګارانو لاندې... خو الله پاک له اول درې کارونه کول وو. ړومبے کار دا وو چې الله پاک عیسیٰ مسیح مرګ د پاره راولیږی، بیا الله پاک عیسیٰ مسیح راژوندے کړو اؤ آسمان ته یې وخیژولو اؤ آخری کار دا وو چې الله پاک عیسیٰ مسیح له فتح ورکړه، صرف په غیر ایماندارانو باندې نه بلکه په مرګ باندې هم. نو د دې په وجه، هغه څوک

چې په عیسیٰ مسیح باندې ایمان ساتی هغوئ به هم په مرګ باندې بریالی شی اؤ آسمان ته به لاړ شی.

**عبدالله:** آسمان ته به لاړ شی؟ تا ته څنګه پته ده چې هغوئ به آسمان ته لاړ شی؟

**اِسمٰعیل:** په هغه آیت کښې دا هم وئیلے شوی دی، "بیا خاص زما طرف ته ستاسو واپسی ده..." (قرآن ۳: ۵۵) نو ستا په خیال الله پاک چرته دے؟

**عبدالله:** آسمان کښې... الله پاک په آسمان کښې دے. همم... اِسمٰعیله تا ته پته شته، ما ستا د ژوند په حقله سوچ کولو. زۀ ګورم چې تۀ د خلقو څومره خیال ساتې...

**اِسمٰعیل:** الحمدالله. عبدالله، ستا د ستائنې د پاره ډیره مننه. خوشحاله شوم چې تۀ داسې سوچ کوې، خو تا له دا یاد ساتل پکار دی چې الله پاک مونږ سره مینه کوی. په قرآن کښې وئیلے شوی دی، "اؤ هم دے (الله) ډیر بخښونکے، ډیر مینه کوونکے دے." (قرآن ۸۵: ۱٤)

نو په دې وجه زۀ خلقو سره مینه کوم، ځکه چې الله پاک اول ما سره مینه کړې ده... ښه دا راته

ووایه چې تا دا خبره د څهٔ په وجه وکړه چې زهٔ خلقو سره مینه کوم اؤ خیال یې ساتم؟

**عبدالله:** دوه هفتې مخکښې تا زهٔ خپل یو ګاونډی سره ملاویدو د پاره بوتلم. هغه د ډیرو میاشتو داسې ناجوړه وو اؤ تا د هغهٔ د پاره دعا وکړه. بله ورځ سحر ما هغه ولیدو اؤ هغه روغ شوے وو. کله چې تا هغهٔ د پاره دعا کوله نو ما ته دې ووئیل چې په بله کوټه کښې انتظار وکړه. تا څهٔ دعا کوله؟

**اِسمٰعیل:** کله چې زهٔ دعا کوم، زهٔ د الله پاک نه دعا غواړم. زهٔ دې د پاره دعا نهٔ کوم چې خلق ما ووینی یا زما دعا واؤری. زهٔ دې ایمان سره دعا کوم چې الله پاک به زما دعا اؤری اؤ د هغې جواب به راکوی. لکه څنګه چې په قرآن کښې وئیلے شوی دی، "تاسو خپل رب وبلئ په عاجزئ سره اؤ په پټه سره..." (قرآن ۷: ۵۵)

**عبدالله:** تا ته پته شته چې زهٔ په دې باندې ډیر حیران شوم چې زمونږ هغه ګاونډی روغ شو! کله چې تا دعا کوله نو څهٔ دې وئیلی وو؟

**اِسمٰعیل:** کله چې زهٔ یو ناجوړه کس د پاره دعا کوم نو زهٔ تل دا خبره یاده ساتم چې عیسیٰ مسیح څنګه

دومره ډيرې معجزې کړی وې اؤ د هغهٔ په معجزو کښې يوه خلقو له شفا ورکول وو. په يو آيت کښې وئيلے شوی دی چې عيسیٰ مسيح به، "... اؤ د بنی اسرائيلو د پاره به يې رسول مقرر کړی اؤ ورته به ووائی، ما د الله د طرف نه تاسو ته يوه غټه نخښنه راوړې ده، چې زهٔ ستاسو په وړاندې د خټې نه د مارغهٔ په شان يو شکل جوړوم، بيا په کښې پوکے ورکوم، نو هغه به د خدائ په حکم مارغهٔ شی، اؤ پيدائشی ړوند اؤ برګ رغوم. اؤ د الله په حکم مړی ژوندی کوم. اؤ دا درته ښودلے شم چې تاسو څهٔ خوړلی دی اؤ څهٔ مو په کورونو کښې ذخيره کړی دی. يقيناً په دې کښې ستاسو د پاره غټ دليل موجود دے کهٔ تاسو پرې يقين کوئ." (قرآن ۳: ٤۹)

**عبدالله:** نو تهٔ ولې د عيسیٰ مسيح په حقله سوچ کوې؟

**اِسمٰعيل:** ولې به نهٔ کوم؟ الله پاک عيسیٰ مسيح له اختيار اؤ اجازت ورکړے وو چې خلقو له شفا ورکړی اؤ د دې نه علاوه عيسیٰ مسيح الله پاک سره ډير نزدې دے. نو چې عيسیٰ مسيح الله پاک سره نزدې دے اؤ الله پاک هغهٔ له د شفا ورکولو اختيار اؤ

اجازت ورکړے دے، نو زۀ د عیسیٰ مسیح د هغه اختیار په بنیاد باندې الله پاک نه د یو ناجوړه کس د شفا د پاره دعا غوښتلے شم کوم اختیار چې الله پاک هغۀ له ورکړے دے.

**عبدالله:** زما په خیال زۀ په دې خبرو باندې نۀ پوهیږم.

**اِسمٰعیل:** زۀ هم په دې نۀ پوهیږم، خو مونږ ته دا نۀ دی وئیلے شوی چې کله مونږ دعا کوو نو مونږ دې په خپله پوهه باندې انحصار کوو، بلکه مونږ ته وئیلے شوی دی چې ایمان ساتو. دا ټکی رایاد کړه، " یقیناً په دې کښې ستاسو د پاره غټ دلیل موجود دے کۀ تاسو پرې یقین کوئ." زما یقین وو چې الله پاک به زمونږ ګاونډی د هغه اختیار په وسیله باندې روغ کړی کوم چې هغۀ عیسیٰ مسیح له ورکړے دے اؤ د دې نتیجه دا شوه چې هغه روغ شو. دَ دې یو ثبوت شته! ماته دَ الغزالی یوه قیصه یاده ده، کومه چې دَ یو ړوند سړی په حقله ده چاله چې عیسی مسیح شفا ورکړې وه، زما پوره یقین دے چې هغه په دې نۀ پوهیدلو چې هغۀ ته به څنګه شفا ملاویږی. هغۀ صرف دا ایمان ساتلو چې الله پاک به هغۀ له شفا ورکړی. نو چې کله

عیسیٰ مسیح ړوند سړی ته وفرمائیل، "ما له خپل لاس راکړه،" نو هغه ړوند سړی یقین وساتلو اؤ خپل لاس یې هغهٔ طرف ته ور اوږد کړو اؤ الله پاک هغهٔ له شفا ورکړه.

**عبدالله:** ډیره دلچسپه خبره ده.

**اِسمٰعیل:** عبدالله، څهٔ دلچسپه خبره ده؟

**عبدالله:** دا خبره، چې کوم سړی له عیسیٰ مسیح شفا ورکړه نو هغه یو پیدائشی ړوند وو. ستا په خیال باندې عیسیٰ مسیح ولې یو پیدائشی ړوند له شفا ورکړه په ځائې د یو بوډا سړی؟

**اِسمٰعیل:** ما ته پته نشته عبدالله؟ خو دې سره ما ته دا خبره رایاده شوه چې د کله نه حضرت آدم اؤ بی بی حوا ګناه کړې ده، نو مونږ ټول په روحانی طور باندې ړاندهٔ یو.

**عبدالله:** په روحانی طور ړاندهٔ یو؟

**اِسمٰعیل:** آؤ، تهٔ دا د حضرت آدم اؤ بی بی حوا په قیصه کښې کتلے شې، کله چې حضرت آدم اؤ بی بی حوا ګناه وکړه اؤ د جنت نه بهر کړے شول. په ۲۰: ۱۲۵ – ۱۲۶ کښې داسې وئیلے شوی دی، "آدم به ووائی: اے زما ربه! تا زهٔ ړوند ولې

راپاڅولے یم، زۀ خو په دنیا کښې د سترګو خاوند وم؟ الله پاک به جواب ورکړی، دغه شان تا ته زمونږ نخښې راغلې وې، خو تا د هغې پرواه ونۀ ساتله. اؤ دغسې به نن تۀ هم هیر کړے شې." (قرآن ۲۰: ۱۲۵ – ۱۲۶)

**عبدالله:** کیدے شی د دې صرف دا مطلب وی چې حضرت آدم په جسمانی طور ړوند شو.

**اِسمٰعیل:** نه عبدالله، د دې مطلب په روحانی طور ړندیدل هم دی، ځکه چې په دې قیصه کښې مونږ ته دا هم وئیلے شوی دی چې دا سزا د ټولو ګناه ګارانو د پاره ده. په وروستې آیت کښې داسې وئیلے شوی دی، "اؤ دغسې مونږ هر هغه چا له سزا ورکوو چې له حد نه وړاندې تیر شی اؤ د خپل رب نخښې ونۀ منی. اؤ د آخرت عذاب ډیر سخت اؤ ډیر باقی پاتې کیدونکے دے." (قرآن ۲۰: ۱۲۷) کۀ چرې د دې مطلب جسمانی ړندوالے وی، نو بیا خو به مونږ ټول په جسمانی طور ړاندۀ وو ځکه چې ټول ګناه ګار یو، ټیک ده کنه؟ نو عبدالله، د دې مطلب دے زمونږ د زړونو ړوندوالے.

یو بل آیت کښې داسې راغلی دی، "نو آیا دوئ د زمکې په مخ تګ راتګ نۀ کوی؟ چې د دوئ داسې زړونه وو چې پوهه بې پرې اخستلے، یا داسې غوږونه ورسره وو چې په هغې بې اؤریدلے؟ خو سمه خبره دا ده چې سترګې نۀ ړندیږی، بلکه هغه زړونه ړاندۀ شی چې په سینو کښې پټ پراتۀ دی." (قرآن ۲۲: ٤٦)

تا ته پته شته چې هغه خلقو سره څۀ کیږی څوک چې په روحانی طور باندې په خپلو زړونو کښې ړاندۀ دی؟

**عبدالله:** ما ته پته نشته...

**اِسمٰعیل:** په قرآن کښې داسې وئیلے شوی دی، "اؤ څوک چې په دې دنیا کښې ړوند پاتې شی، پس هغه به په آخرت کښې هم ړوند وی. اؤ د لارې نه به ډیر زیات بې لارې وی." (قرآن ۱۷: ۷۲)

**عبدالله:** اوه، نه! دا خو به ډیره خرابه خبره وی کۀ چرې مونږ په آخرت کښې هم ړاندۀ یو. نو مونږ د روحانی ړوندوالی نه بچ کیدو د پاره څۀ کولے شو؟

**اِسمٰعیل:** په قرآن کښې عیسیٰ مسیح فرمائیلی دی، "زۀ پیدائشی ړوند بینا کوم..." (قرآن ۳: ٤۹)

اؤ بیا الله پاک عیسیٰ مسیح ته وفرمائیل، "تا به پیدائشی ړاندۀ روغول..." (قرآن ٥: ۱۱۰)

نو عبدالله، د دې مطلب دے چې مونږ له په عیسیٰ مسیح باندې د هغه ذات په طور ایمان ساتل پکار دی ځوک چې مونږ له د روحانی ړوندوالی نه شفا راکولے شی.

**عبدالله:** ما سره یو کتاب دے چې نوم یې "د پیغمبرانو قیصې" دے. ما په دې کښې ولوستل چې صرف عیسیٰ مسیح ډیر خاص معجزې کړی دی.

**اِسمٰعیل:** لکه څنګه معجزې؟

**عبدالله:** لکه مرغۍ له ژوند ورکول اؤ مړی راژوندی کول.

**اِسمٰعیل:** زما دا ایمان دے چې د عیسیٰ مسیح معجزې مونږ ته دا خبره ښائی چې هغه ژوند ورکوونکے دے. هغه جسمانی اؤ روحانی ژوند ورکولے شی. عیسیٰ مسیح قیامت اؤ ژوندون دے.

**عبدالله:** ستا څۀ مطلب دے؟

**اِسمٰعیل:** د قرآن په مطابق کله چې الله پاک انسان پیدا کړو، نو الله پاک په هغۀ کښې د خپل روح په

وسیله ساه پُو کړه اؤ انسان ژوندے ځان جوړ شو چې اؤریدل، کتل اؤ احساسات په کښې وو. نو مونږ کتلے شو چې د الله پاک په روح کښې څنګه د ژوند ورکولو خاص طاقت موجود دے. چې په قرآن کښې عیسیٰ مسیح ته روح الله وئیلے شوی دی، نو د دې مطلب دے چې په هغهٔ کښې د ژوند ورکولو طاقت شته، نو په دې وجه د خټې نه جوړه شوې مرغۍ ژوندئ شوه اؤ مړے راژوندے شو.

❖ ❖

د اتوار په ورځ سحر وختی عبدالله ما ته ټیلیفون وکړو اؤ وې وئیل چې چړیاګهر ته د تلو نه مخکښې چائیو د پاره زمونږ کور ته راشه. کله چې مونږ چائې څښله نو عبدالله زما نه د الله پاک د مینې په حقله یو څو تپوسونه وکړل کومه چې د عیسیٰ مسیح په وسیله وښودلے شوه.

**اِسمٰعیل:** نن چړیاګهر ته د تلو د پاره څومره ښکلې ورځ ده. الحمدالله، نن موسم هم ډیر ښکلے دے.

**عبدالله:** دا خو ډیره ښه ده، ځکه چې کله تیر ځل زۀ چړیاګهر ته تلم نو وریځ وه اؤ باران شروع شو.

**اِسمٰعیل:** ستا د موټرسائیکل څۀ وشو؟

**عبدالله:** زما موټرسائیکل سم شو اؤ د مستری نه کور ته راوستلو. چې کله راسره موټرسائیکل نۀ وو نو ما ته ډیره ګرانه وه، خو اوس مسئله حل شوه.

**اِسمٰعیل:** الحمدالله.

**عبدالله:** ستا کار څنګه روان دے؟

**اِسمٰعیل:** ښۀ دے، خو زما کمپیوټر کښې لږه مسئله راغلې ده. تا ته خو پته ده کنه چې زما ګاونډی زما نه کمپیوټر اخستے وو خو هغۀ ته پته نۀ وه چې د هغۀ

په یو ایس بی کښې وائرس دی. د دې په وجه زما کمپیوټر کښې ډیره مسئله راغلې وه. خو الحمدالله، ما کمپیوټر واپس ټیک کړو. ما دَ کمپیوټر نه وائرس ختم کړل اؤ څۀ فائلونه مې ځان سره محفوظ ساتلی وو نو هغه مې واپس کمپیوټر ته واچول.

**عبدالله:** نو تۀ خو به خپل ګاونډی ته غُصه وې؟

**اِسمٰعیل:** زۀ به ولې غُصه وم؟ هغۀ معافی وغوښته اؤ د دې نه علاوه ما خپل کمپیوټر واپس سم کړو.

**عبدالله:** آؤ، خو تا به د هغې په سمولو باندې ډیر وخت لګولے وی. بهرحال، داسې ښکاری چې ستا د پاره هغه کس معاف کول ډیر آسان دی چا چې ستا کمپیوټر خراب کړے وو.

**اِسمٰعیل:** عبدالله، الله پاک زما ګناهونه معاف کړی دی اؤ زما زړۀ یې کولاؤ کړے دے چې د عیسیٰ مسیح په وسیله د هغۀ رحم وپیژنم. چې الله پاک زۀ معاف کړے یم، نو بیا دې زۀ ولې د خپل ملګری غلطی معاف نۀ کړم؟

**عبدالله:** ځینې وخت دا ګرانه وی چې نور خلق معاف کړو. کیدے شی ستا د پاره آسان وی ځکه چې ته الله پاک ته ډیر نزدې یې...

**اِسمٰعیل:** الحمدالله، عبدالله. زۀ محسوسوم چې زۀ الله پاک سره نزدې تعلق لرم، لکه د یو ښۀ ملګری په شان. زما دا ایمان دے چې الله پاک ما ډیر ښۀ پیژنی اؤ زۀ هم غواړم چې الله پاک وپیژنم.

**عبدالله:** الله پاک خو ډیر لرې دے نو بیا ته څنګه هغۀ سره دومره نزدې تعلق لرلے شې؟

**اِسمٰعیل:** عبدالله، الله پاک لرې نۀ دے. الله پاک مونږ ته ډیر نزدې دے. په قرآن کښې وئیلے شوی دی، "اؤ یقیناً مونږ انسان پیدا کړو. اؤ د دۀ په زړۀ کښې چې کومې وسوسې راځی هغه مونږ پیژنو. اؤ مونږ خو د دۀ د ساه رګ نه هم زیات نزدې یو." (قرآن ۵۰: ۱٦)

الله پاک مونږ ته نزدې دے اؤ هغه زمونږ په انتظار کښې دے چې د هغۀ آواز واؤرو اؤ هغۀ ته رجوع وکړو. په یو بل آیت کښې داسې وئیلے شوی دی، "اؤ هر کله چې زما بندګان زما په حقله تا نه تپوس وکړی، نو ورته ووایه چې زۀ هغوئ ته ډیر نزدې یم

یو غوښتونکے چې څۀ وخت ما ته خواست وکړی، زۀ هغه قبلوم نو پکار دی چې هغوئ زما حکمونه قبول کړی اؤ ما باندې یقین وکړی، چې هغوئ سمه لار بیا مومی." (قرآن ۲: ۱۸۶)

خو عبدالله، بې شکه چې الله پاک مونږ ته نزدې دے. خو مونږ هغۀ ته نزدې نۀ شو ورتلے، ځکه چې هغه پاک اؤ مقدس دے اؤ مونږ ګناه ګار یو. په قرآن کښې یو آیت دے چې ذکر یې ما تا ته مخکښې وکړو، په دې کښې وئیلے شوی دی، "چې څوک خپل رب ته د مجرم کیدو په حیث راشی نو بې شکه هغۀ د پاره جهنم دے. چې نۀ به په کښې مری اؤ نۀ به رغیږی." (قرآن ۲۰: ۷۴)

نو عبدالله، چې مونږ ګناه ګار یو نو بیا څنګه الله پاک له تلے شو؟

**عبدالله:** ما ته پته نشته.

**اِسمٰعیل:** مونږ ته د یو مینځګړی ضرورت دے، د یو داسې کس چې پاک اؤ الله پاک ته نزدې وی، اؤ زمونږ په ځائ باندې الله پاک خواته تلے شی. اؤ داسې کس صرف مالک عیسیٰ مسیح دے. عیسیٰ مسیح صرف پاک نۀ دے بلکه هغه الله پاک ته

ډېر نزدې هم دے. په قرآن کښې مونږ ته وئيلے شوی دی چې عيسیٰ مسيح الله پاک ته نزدې دے.

"کله چې ملايکو ووئيل: اے مريمې! بې شکه الله تا ته له خپل طرف نه د يوې کلمې زيرے درکوی، چې د هغۀ نوم مسيح عيسیٰ زوے د مريم دے. چې په دنيا اؤ آخرت کښې به ډېر مخور وی اؤ له مقربينو څخه به وی." (قرآن ۳: ٤٥)

نو عبدالله چې مالک عيسیٰ مسيح الله پاک ته نزدې دے نو زۀ د عيسیٰ مسيح په وسيله باندې الله پاک خواته راتلے شم.

**عبدالله:** لږ صبر وکړه. تا ووئيل چې مونږ له په داسې کس باندې ايمان ساتل پکار دی چې هغه پاک وی. ما دا سوچ کولو چې صرف الله تعالیٰ پاک دے.

**اِسمٰعيل:** تا ته ياد دی چې کله فرښتې بی بی مريم له د عيسیٰ مسيح د پيدايښت زيرے ورکولو نو هغې ورته څۀ ووئيل؟

"...زۀ خو يواځې ستا د رب رسول يم، د دې لپاره چې تا ته (د خپل رب په حکم) يو ډېر پاک هلک درکړم." (قرآن ۱۹:۱۹)

صرف دا نه چې ګڼي عیسیٰ مسیح پاک پیدا شو، بلکه هغهٔ په خپل ټول ژوند کښې یو پاک اؤ صادقه ژوند تیر کړو. فرښتو دا هم ووئیل، "اؤ هغه (عیسیٰ) به له خلقو سره خبرې کوی په زانګو کښې، اؤ په پاخهٔ عمر کښې اؤ وی به له صالحانو نه." (قرآن ٣ : ٤٦)

د الله پاک روح په عیسیٰ مسیح کښې دے، نو ځکه عیسیٰ مسیح پاک دے.

**عبدالله:** ټیک ده، فرض کړه چې زهٔ ستا خبره ومنم چې عیسیٰ مسیح پاک دے، خو عیسیٰ مسیح زمونږ د ګناهونو د پاره څنګه څهٔ کولے شی؟

**اِسمٰعیل:** په قرآن کښې یو آیت دے چې په کښې داسې وئیلے شوی دی، "اؤ بې شکه دغه (عیسیٰ) د قیامت لپاره یقیناً یوه لویه نخښه ده، نو تاسو د دغه (قیامت) په باره کښې له سره شک مهٔ کوئ، خو زما پیروی کوی، دا نیغه لار ده. (قرآن ٤٣ : ٦١) عبدالله، تهٔ د دې آیت نه خبر یې؟

**عبدالله:** آؤ، ما دا آیت چرته مخکښې اؤریدلے دے.

**اِسمٰعیل:** ستا په دې ایمان شته چې عیسیٰ مسیح به واپس راځی؟

**عبدالله:** آؤ، زما ایمان دے. اؤ زما دا هم ایمان دے چې کله هغه واپس راځی نو هغه به د آسمان نه د یو انصاف کوونکی قاضی په طور راځی.

**اِسمٰعیل:** کۀ چرې داسې وی، نو بیا فرض کړه چې چا څۀ جُرم کړے وی اؤ د دې نه پس هغوئ ونیولے شی اؤ قاضی ته پیش کړے شی. نو فرض کړه چې اوس هغه مُجرم په رښتینی زړۀ سره د خپل جُرم نه توبه وکړی اؤ د هغې اقرار وکړی اؤ بیا د معافئ اؤ رحم د پاره سوال وکړی. نو آیا قاضی به په هغۀ رحم وکړی اؤ هغه به معاف کړی؟

**عبدالله:** کیدے شی، خو ما ته پته نشته.

**اِسمٰعیل:** آیا ستا په دې خبره یقین دے چې قاضی سره دومره اختیار شته چې هغه په مُجرم باندې رحم وکړی اؤ هغه معاف کړی؟

**عبدالله:** آؤ.

**اِسمٰعیل:** نو کۀ چرې مُجرم هغه قاضی پیژنی اؤ دا ورته معلومه وی چې هغه قاضی ډیر رحم کوونکے دے نو بیا. نو آیا ستا دا یقین دے چې قاضی به په هغه مُجرم رحم وکړی اؤ هغه به معاف کړی؟

**عبدالله:** کیدے شی.

**اِسمٰعیل:** ښه عبدالله، کۀ چرې ستا دا ایمان وی چې عیسیٰ مسیح يو انصاف کوونکے قاضی دے، نو بيا تا له دا ایمان ساتل هم پکار دی چې د يو قاضی په طور باندې، عیسیٰ مسیح سره دا اختیار شته چې په يو کس رحم وکړی اؤ معاف یې کړی. په قرآن کښې هم مونږ ته دا وئیلے شوی دی چې الله پاک عیسیٰ مسیح د خپل رحم ښودلو د پاره راولیږلو. په قرآن کښې داسې وئیلے شوی دی، "اؤ د دې لپاره چې مونږ دے (عیسیٰ) د خلقو لپاره نخښه وګرځوو اؤ له خپل (الله) جانب نه رحمت. اؤ دغه يو فیصله شوے کار دے." (قرآن ۱۹: ۲۱)

نو چې عیسیٰ مسیح روح الله دے، اؤ عیسیٰ مسیح پاک اؤ صادق دے، نو بيا د الله پاک د پاره ځوک غوره کیدے شی چې هغه یې مونږ ته د خپل رحمت ښودلو د پاره استعمال کړی؟

**عبدالله:** ټیک ده، زما په خیال زۀ اوس لږ لږ ستا په خبرو باندې پوهیږم، خو زما يو بل تپوس دے. آیا ستا په دې ایمان دے چې الله پاک په عیسیٰ مسیح کښې اوسیږی؟

**اِسمٰعیل:** چې عیسیٰ مسیح کلمة الله اؤ روح الله دے، نو بیا ولې داسې نۀ شی کیدے؟

**عبدالله:** خو دا زما د پاره ډیره عجیبه خبره ده چې الله پاک په یو انسان کښې اوسیدلے شی.

**اِسمٰعیل:** عبدالله، دا ولې عجیبه خبره ده؟ تا ته د موسیٰ د قیصې پته ده، کله چې هغه غر ته خیژی اؤ یوه سوزیدونکې جاړه ووینی، اؤ هغۀ ته معلومه شی چې الله پاک هلته کښې وو؟ نو په دغه قیصه کښې الله پاک په هغه سوزیدونکې جاړه کښې وو! په قرآن کښې داسې وئیلے شوی دی، "نو کله چې هغه (اور) ته راغے، نو په مبارکه ټوټه (قُطعه) کښې د ناؤ په ښی اړخ کښې له ونې نه ورته آواز وکړے شو، داسې چې اے موسیٰ! بې شکه همدا زۀ الله رب العلمین یم..." (قرآن ۲۸ : ۳۰)

په یو بل ځائ کښې داسې وئیلے شوی دی، "نو کله چې دے هغه (اور) ته راغے، آواز وکړے شو، داسې چې برکتی کړے شوے دے هغه چې په اور کښې دے اؤ هغه چې د دۀ (اور) چاپیره دے، اؤ پاکی ده الله ته چې رب العلمین دے. اے موسیٰ!

بې شکه شان دا دے چې هم زۀ الله يم، ښۀ غالب، ښه حکمت واله!" (قرآن ۲۷: ۸ – ۹)

**عبدالله:** د دې قيصې څۀ مطلب دے؟

**اِسمٰعيل:** کۀ چرې الله پاک په سوزيدونکې جاړه کښې راتلے شی، د دې مطلب دے چې الله پاک په ډيرو ځايونو کښې راتلے شی. نو چې الله پاک په سوزيدونکې جاړه کښې راغلو، نو زما دا ايمان دے چې دا د الله پاک د پاره ناممکنه نۀ ده چې هغه په عيسیٰ مسيح کښې هم راشی.

**عبدالله:** تۀ رښتيا وايې؟

**اِسمٰعيل:** عبدالله، الله پاک هر څۀ کولے شی. هغه قدرت اؤ طاقت لری اؤ د هغۀ د طاقت هيڅ حد نشته، ټيک ده کنه؟

**عبدالله:** آؤ، خو زما نۀ دے خيال چې هغه به داسې وکړی.

**اِسمٰعيل:** مونږ د هغۀ طاقت کمولے نۀ شو. الله پاک په خپله طريقه باندې مونږ ته خپل فضل اؤ رحم ښودلے دے. اؤ الله پاک دا کار په دې طريقه وکړو چې هغۀ عيسیٰ مسيح راوليږلو چې مړ شی اؤ د هغۀ د رحم په طور باندې د مړو نه بيا راژوندے

شی، چې الله پاک مونږ د هغهٔ په وسیله باندې قبول کړی.

**عبدالله:** عیسیٰ مسیح دې د پاره مړ شو اؤ بیا راژوندے شو چې الله پاک مونږ قبول کړی؟ همم... دا زما د پاره یو نوے خبر دے. دا خیال درته د چرته نه راغلو؟

**اِسمٰعیل:** ما ته پته ده چې ځینې وخت د الله پاک په طریقو باندې پوهیدل ګران وی، خو الله پاک هم په دې طریقه دا کار کړے دے.

**عبدالله:** خو ما ته همیشه دا ښودنه شوې ده چې عیسیٰ مسیح مړ شوے نهٔ دے. ولې تا ته پته نشته چې په قرآن کښې څهٔ وئیلے شوی دی؟

"اؤ د دوئ د دې وینا په سبب چې بې شکه مونږه د مریمې زوئ مسیح عیسیٰ وژلے دے، چې د الله رسول دے. حال دا چې دوئ نهٔ هغه وژلے دے اؤ نهٔ یې په دار کړے دے اؤ لیکن دوئ ته هغه (له عیسیٰ مسیح سره) یو شان کړے شوے وو. اؤ بې شکه هغه کسان چې د دهٔ په باره کښې یې اختلاف کړے دے، خامخا د دهٔ په حقله په شک کښې دی. دوئ ته د هغهٔ په باره کښې د هیڅ

علم نشته، سوا د ګمان له پيروئ نه، اؤ دوئ هغه يقيناً نۀ دے وژلے." (قرآن ٤ : ١٥٧)

**اِسمٰعيل:** عبدالله، زۀ دې آيت سره بالکل اتفاق کوم. اول وګوره چې په دې آيت کښې "دوئ" څوک دی.

**عبدالله:** يهوديان، ټيک ده کنه؟

**اِسمٰعيل:** ستا خبره صحيح ده. دا يهوديان وو. اؤ زۀ دا خبره منم چې يهوديانو عيسىٰ مسيح ونۀ وژلو. تا ته پته شته چې چا عيسىٰ مسيح ووژلو؟

**عبدالله:** نه. ما ته پته نشته.

**اِسمٰعيل:** روميانو! نو قرآن کښې بالکل رښتيا وئيلے شوی دی. يهوديانو عيسىٰ مسيح نۀ دے وژلے. بلکه دا روميان وو چې عيسىٰ مسيح يې ووژلو.

**عبدالله:** لږ صبر وکړه... ستا څۀ مطلب دے؟

**اِسمٰعيل:** د تاريخ نه دا خبره ثابتيږی چې روميانو عيسىٰ مسيح وژلے دے.

**عبدالله:** خو ما ته وئيلے شوی دی چې الله پاک چا له هم دا اختيار نۀ ورکوی چې د هغۀ پيغمبران ووژنی.

**اِسمٰعيل:** عبدالله: په قرآن کښې کله هم دا نۀ دی وئيلے شوی دی چې الله پاک هيڅوک نۀ پريږدی چې د هغۀ پيغمبران يا رسولان ووژنی. حقيقت خو دا

دے چې په قرآن کښې ډېر آیتونه شته چې په هغې کښې وئیلے شوی دی چې د الله پاک ډېر پیغمبران ووژلے شول. مثال په طور په یوه حواله کښې داسې وئیلے شوی دی، "خامخا یقیناً الله د هغو خلقو (یهودیانو) خبره واؤریدله چې وې وئیل، بې شکه الله فقیر دے اؤ مونږ غنیان یو! خامخا به مونږ لیکو د دوئ دا خبره اؤ نبیانو لره د دوئ ناحقه وژل، اؤ مونږ به (دوئ ته) ووایو، تاسو سخت سوزیدونکے عذاب وڅښئ. دا (عذاب) په سبب د هغه (بدعمل) دے چې ستاسو لاسونو مخکښې لیږلے دے، اؤ ځکه چې یقیناً الله په بنده ګانو هیڅ ظلم کوونکے نۀ دے. دوئ (یهودیان) هغه کسان دی چې وائی، بې شکه الله مونږ ته حکم کړے دے چې مونږ به په هیڅ یو پیغمبر باندې ایمان نۀ راوړو تر هغه پورې چې هغه مونږ ته یوه داسې قربانی راوړی چې اور یې خوری، تۀ (ورته) ووایه، یقیناً تاسو ته له ما نه مخکښې رسولانو ښکاره معجزې راوړې وې اؤ هغه شے هم چې تاسو یې وایئ. بیا ولې تاسو هغوئ قتل کړل؟

کۀ چرې تاسو رښتينی يئ؟ (قرآن ۳: ۱۸۱ – ۱۸۳)

**عبدالله:** خو ما د يو مسلمان نه هم دا خبره نۀ ده اؤريدلې چې هغوئ په دې ايمان ساتی چې روميانو عيسیٰ مسيح وژلے دے.

**اِسمٰعيل:** هيڅ خبره نۀ ده. کۀ چرې زۀ درته ووايم چې الله پاک عيسیٰ مسيح ووژلو نو بيا؟

**عبدالله:** داسې نۀ شی کيدے! اول تا ووئيل چې روميانو عيسیٰ مسيح ووژلو اؤ اوس تۀ وايې چې الله پاک عيسیٰ مسيح ووژلو. تۀ څنګه دا دوه خبرې کوې؟

**اِسمٰعيل:** ښه عبدالله، فرض کړه چې څوک يو کس په تيرۀ چاقو باندې ووژنی. نو مونږ وئيلے شو چې هغه سړے يو قاتل وژلے دے اؤ يا وايو چې هغه سړے په چاقو باندې وژلے شوے دے. روميان لکه د چاقو په شان وو. زما دا ايمان دے چې الله پاک هغوئ د خپل هتيار په طور استعمال کړل چې عيسیٰ مسيح ووژنی. هغه قيصه درته ياده ده چې څنګه د حضرت محمد سړو په جنګ بدر کښې په دښمنانو باندې د فتح موندلو په حقله فخر سره خبرې کولې؟ په قرآن کښې د دې په حقله څۀ

وئيلے شوی دی؟ "نو تاسو هغوئ نۀ دی وژلی اؤ لیکن الله هغوئ وژلی دی. اؤ تا ویشتل نۀ دی کړی کله چې تا ویشتل وکړل، اؤ لیکن الله دغه ویشتل کړی دی. اؤ د دې لپاره چې هغه د خپل جانب نه په مومنانو باندې احسان وکړی، ښه احسان. بې شکه الله ښۀ اؤریدونکے، ښۀ پوهه دے." (قرآن ۸: ۱۷)

نو د دې آیت په مطابق، دښمنان چا ووژل؟ الله پاک یا د حضرت محمد سړو؟

**عبدالله:** زما په خیال دواړو. خو الله پاک به ولې خپل رسول وژنی؟

**اِسمٰعیل:** الله پاک هر څۀ کولے شی. په قرآن کښې داسې وئیلے شوی دی، "... د الله په وړاندې به څوک د څۀ شی اختیار ولری کۀ هغه اراده وکړی چې د مریمې زوئ مسیح اؤ د هغۀ مور اؤ څوک چې په زمکه کښې دی، هغه ټول هلاک کړی. اؤ خاص د الله لپاره د آسمانونو اؤ زمکې بادشاهی ده، اؤ د هغه څۀ چې د دې دواړو په مینځ کښې دی. هغه (الله) چې څۀ وغواړی پیدا کوی اؤ الله په هر شی باندې ښۀ قادر دے." (قرآن ۵: ۱۷)

**عبدالله:** خو الله پاک به ولې عيسىٰ مسيح وژلو؟

**اِسمٰعيل:** ښه، مونږ ته پته ده چې يهوديانو عيسىٰ مسيح وژل غوښتل، اؤ هغوئ منصوبه جوړه کړې وه چې هغه به څنګه وژنی، خو الله پاک خپل مقصد اؤ منصوبه لرله. په قرآن کښې د دې په حقله داسې وئيلے شوی دی، "اؤ يهوديانو چلونه جوړ کړل اؤ الله پټ تدبير وکړو. اؤ الله له ټولو تدبيرو کوونکو نه غوره دے." (قرآن ۳: ٤٥)

بيا په ورپسې آيت کښې مونږ ته وئيلے شوی دی چې د الله پاک منصوبه څۀ وه. په دې کښې وئيلے شوی دی، "کله چې الله ووئيل، اے عيسىٰ! بې شکه زۀ تا لره پوره پوره اخستونکے يم اؤ د خپل ځان طرف ته ستا راپورته کوونکے يم، اؤ تا لره له هغو کسانو نه پاکوونکے يم چې کفر يې کړے دے، اؤ چا چې ستا پيروی کړې ده هغوئ لره د قيامت د ورځې پورې د هغو کسانو له پاسه کوونکے يم چې کفر يې کړے دے..." (قرآن ۳: ٥٥)

عبدالله، الله پاک یوه منصوبه لرله. دا منصوبه خلقو د پاره یوه لار تیاروِل وو چې الله پاک هغوئ قبول کړی اؤ آسمان کښې یې داخل کړی.

**عبدالله:** خو زما په خیال زۀ اوس هم په دې خبره یقین نۀ شم کولے چې په قرآن کښې وئیلے شوی دی چې عیسیٰ مسیح مړ شو. تۀ دا خبره ثابتولے شې؟

**اِسمٰعیل:** زۀ تر هغې دا نۀ شم ثابتولے تر څو چې مونږ سره ګواهان نۀ وی. نو اول مونږ له پکار دی چې د ګواهانو لټون وکړو.

**عبدالله:** همم... دا خو داسې ښکاری لکه چې مونږ یو فلم ګورو چې په کښې تحقیق کیږی... اؤ مونږ کوشش کوو چې حقیقت معلوم کړو.

**اِسمٰعیل:** عبدالله، ستا خبره صحیح ده. نو راځه چې وګورو چې څنګه مونږ دا خبره ثابتولے شو چې آیا عیسی مسیح مړ شوے دے اؤ بیا راژوندے شوے دے اؤ که نه. راځه چې د هغه آیت نه شروع وکړو د کوم چې تا ذکر وکړو. په دې کښې وئیلے شوی دی، "اؤ د دوئ د دې وینا په سبب چې بې شکه مونږه د مریمې زوئ مسیح عیسیٰ وژلے دے، چې د الله رسول دے. حال دا چې دوئ نۀ هغه وژلے

دے اؤ نۀ يې په دار کړے دے اؤ ليکن دوئ ته هغه (له عيسىٰ مسيح سره) يو شان کړے شوے وو. اؤ بې شکه هغه کسان چې د دۀ په باره کښې يې اختلاف کړے دے، خامخا د دۀ په حقله په شک کښې دی. دوئ ته د هغۀ په باره کښې د هيڅ علم نشته، سوا د ګمان له پيروئ نه، اؤ دوئ هغه يقيناً نۀ دے وژلے." (قرآن ٤ : ١٥٧)

عبدالله، زۀ درنه يو تپوس کوم. د دې آيت په مطابق تۀ دا فيصله کولے شې چې عيسىٰ مسيح ووژلے شو يا نه؟

**عبدالله:** نه.

**اِسمٰعيل:** ولې نه؟

**عبدالله:** ځکه چې په دې آيت کښې خلق په شک کښې وو چې څۀ شوی دی، هغوئ ته په حقيقت کښې نۀ وه معلومه چې څۀ چل شوے دے، نو چې څۀ شوی وو هغوئ د هغې په حقله اندازې لګولې. د هغوئ يقين نۀ وو چې آيا عيسىٰ مسيح يې واقعی وژلے دے اؤ کۀ نه. نو د دې آيت په مطابق زۀ دا نۀ شم وئيلے چې عيسىٰ مسيح مړ شو اؤ کۀ نه.

**اِسمٰعیل:** همم... صرف دا ووایه چې مونږ یو تحقیق کوونکے فلم ګورو، لکه څنګه چې تا ووئیل، ټیک ده؟ په هغې کښې یو کس ووژلے شو. نو تحقیق کوونکے څنګه دا ثابتولے شی چې قاتل څوک وو؟ کله چې هغه خپل تحقیق ختم کړی نو هغه به دا فیصله عدالت ته راوړی، ټیک ده؟ خو په عدالت کښې هم هغۀ سره ګواهان نۀ وی اؤ حقیقت ثابت نۀ کړے شی اؤ هیڅوک هم د خپل جُرم اقرار ونۀ کړی.

**عبدالله:** ستا خبره صحیح ده. مونږ ته د ګواهانو حاجت دے. خو ګواهان څوک دی چې هغوئ د عیسیٰ مسیح د مرګ خبره ثابتولے شی؟

**اِسمٰعیل:** عبدالله، دا یو ډیر ښۀ سوال دے. مونږ ته د دوؤ ګواهانو ضرورت دے. اؤ دا دوه ګواهان عیسیٰ مسیح اؤ حضرت محمد دی! خو مونږ له دا پیژندل پکار دی چې هغوئ څۀ بیان ورکړے دے.

**عبدالله:** ستا مطلب دے چې عیسیٰ مسیح اؤ حضرت محمد څۀ وئیلی دی؟

**اِسمٰعیل:** آؤ! زۀ به درته هغه آیتونه اؤ بیانونه وښایم کوم چې عیسیٰ مسیح ورکړی دی اؤ هغه بیانونه هم کوم چې حضرت محمد ورکړی دی. اول عیسیٰ مسیح خپل بیان داسې ورکړو. عیسیٰ مسیح فرمائی، "اؤ په ما دې سلامتی وی، په هغې ورځ چې زۀ وزیږول شوم اؤ په هغې ورځ چې زۀ به مرم، اؤ په هغې ورځ چې زۀ به بیا ژوندے راپورته کولے شم." (قرآن ۱۹: ۳۳)

اؤ بیا په ورپسې آیت کښې حضرت محمد خپل بیان ورکوی، "دغه عیسیٰ د مریمې زوئ دے دا د دۀ په حقله حقه خبره ده، هغه چې دوئ په هغې کښې سره جګړې کوی." (قرآن ۱۹: ۳٤)

کۀ چرې مونږ دویم آیت ته غور وکړو، نو مونږ کتلے شو چې حضرت محمد د دې نه مخکښې آیت کښې د عیسیٰ مسیح بیان سره متفق دے، چې عیسیٰ مسیح وزیږدلو، مړ شو اؤ د مړو نه بیا راژوندے کړے شو.

**عبدالله:** خو اِسمٰعیله، په دې آیت کښې عیسیٰ مسیح دا نۀ وائی چې هغه "مړ" شوے دے. هغه ووئیل، "مرم."

**اِسمٰعیل:** بې شکه چې هغۀ داسې ووئیل مرم به. کله چې هغۀ دا خبره کوله نو هغه لا ژوندے وو. یو ژوندے کس څنګه د خپل ځان په حقله داسې وئیلے شی، "زۀ مړ شوم"؟

**عبدالله:** همم... زما په خیال ستا خبره صحیح ده. ما د دې په حقله سوچ نۀ وو کړے.

**اِسمٰعیل:** نو عبدالله، حضرت محمد د عیسیٰ مسیح د بیان په حقله څۀ ووئیل؟ هغۀ ووئیل، "دا د دۀ په حقله حقه خبره ده."

زما دا ایمان دے چې حضرت محمد هغه وخت داسې وئیل، "اے! زما خبره واؤرئ. د دې په باره کښې نور بحث مۀ کوئ. نور شک مۀ کوئ څکه چې عیسیٰ مسیح مړ شو اؤ د مړو نه بیا راژوندے شو!" نو عبدالله ګوره، دا خبره په دې آیتونو کښې هم صفا وئیلے شوې ده.

**عبدالله:** آؤ، کله چې زۀ په اسلامی سکول کښې وم نو ما ته یاد دی چې مونږ د حضرت محمد د سِیرت په حقله ازده کړی وو، زما دا ایمان دے چې هغه یو رښتینے سړے وو.

**اِسمٰعیل:** بالکل. نو کۀ چرې مونږ په دې ایمان نۀ ساتو چې عیسیٰ مسیح مړ شو اؤ د مړو نه بیا راژوندے شو، د دې مطلب دے چې مونږ د حضرت محمد د خبرې منلو نه انکار کوو.

**عبدالله:** د عیسیٰ مسیح په حقله داسې ډیرې خبرې دی چې زۀ پرې نۀ پوهیږم. د دې په باوجود چې تۀ د عیسیٰ مسیح په حقله ډیرې خبرې کوې، خو دا خبرې بیا هم زما د پاره د یو راز په شان دی. هغه په حقیقت کښې څوک وو؟

**اِسمٰعیل:** عبدالله، کۀ چرې تۀ په دې خبرو نۀ پوهیږې نو فکر مۀ کوه. کله چې عیسیٰ مسیح بیا واپس راځی نو هغه به صرف د هغه خلقو لټون نۀ کوی څوک چې د هغۀ په حقله په هر څۀ پوهیږی، بلکه هغه به د هغه خلقو لټون کوی څوک چې پرې ایمان لری. لکه څنګه چې په دې آیت کښې وئیلے شوی دی، "بلکه الله هغه (عیسیٰ) خپل طرف ته راپورته کړے دے. اؤ الله له ازله ډیر غالب، ښۀ حکمت والا دے. اؤ نشته هیڅوک له اهلِ کتابو نه مګر چې هغه به خامخا لازماً د دۀ له مرګ نه مخکښې په دۀ ایمان راوړی، اؤ د قیامت

په ورځ به هغه (عیسیٰ) په دوئ باندې ګواه وی."
(قرآن ٤ : ١٥٨ – ١٥٩)

**عبدالله:** ښه اِسمٰعیله، زۀ د عیسیٰ مسیح په حقله نورې پوښتنې هم لرم، خو اوس پکار دی چې مونږ چړیاګهر ته لاړ شو.

❖ ❖

په چړیاګهر کښې ځناورو کتلو نه مونږ ډیره مزه واخستله اؤ مونږ ډیر تصویران وویستل. لږ ساعت پس مونږ د یوې ونې لاندې دَمې د پاره کښیناستو اؤ د عبدالله بچو چې په پارک کښې لوبې کولې هغوئ ته مو کتل.

**عبدالله:** دا ځناور زما ډیر زیات خوښ دی. اؤ خاص طور باندې زمرو ته کتل خو مې ډیر خوښ دی. په هغوئ باندې ځومره ښکلې ویښتهٔ دی. زړهٔ مې غواړی چې لاس مې وروړے وو. خو ما ته پته ده چې داسې کول ناممکن دی. دا ځنګلی ځناور دی. نو زما یقین دے چې دوئ به په ما باندې حمله کوی.

**اِسمٰعیل:** آؤ، خو ډیره موده مخکښې دا ځناور خطرناک نهٔ وو. کله نه چې حضرت آدم اؤ بی بی حوا ګناه کړې ده، نو الله پاک دا ځناور داسې جوړ کړی دی.

**عبدالله:** دا څومره بده خبره ده.

**اِسمٰعیل:** کله کله تهٔ دا هم لیدلے شي چې خلق د ځناورو نه ډیر بدل نهٔ وی، هغوئ یوبل وژنی اؤ هر قسمه د ظلم نه ډک کارونه کوی.

**عبدالله:** ستا څهٔ خیال دے چې حضرت آدم اؤ بی بی حوا غلطی وکړه، نو اوس ځکه خلق ګناه کوی؟

❖

د خالی په ورځ عبدالله زمونږ کور ته راغلو ځکه چې زما ورور ته نوکری ملاؤ شوې وه نو هغهٔ په دې خوشحالئ کښې ملګرو له دعوت ورکړے وو. مونږ د خپل کور په باغیچه کښې خوراک څښاک وکړو. کله چې ټول لاړل، نو عبدالله اؤ زهٔ دننه کوټې ته لاړو چې نورې خبرې اترې هم وکړو.

**اِسمٰعیل:** الحمدالله، زما ورور ته نوې نوکری ملاؤ شوه. هغهٔ د لږ وخت د پاره بل ځائ کښې کار کولو. مونږ هغهٔ د پاره دعا کوله اؤ هغهٔ ته نوکری ملاؤ شوه. اؤ دا د اولنئ نوکرئ نه ډیره ښه ده. الله پاک ډیر ښهٔ دے. هغه په مونږ ډیر مهربانه اؤ رحم کوونکے دے.

**عبدالله:** تهٔ همیشه د الله پاک د رحم په حقله خبرې کوې. کله چې تهٔ د الله پاک د رحم په حقله خبرې کوې، نو د دې نه ستا څهٔ مطلب دے؟

**اِسمٰعیل:** د الله پاک رحم یو داسې څیز دے چې مونږ ته ویړیا ملاویږی. مونږ دا گټلے یا په پیسو باندې اخستلے نهٔ شو. زهٔ به درله یو مثال درکړم، ټیک ده؟

**عبدالله:** بالکل...

**اِسمٰعیل:** فرض کړه چې ما سره گاډے وو اؤ ما تا ته وئیلی وو چې زما گاډے ووینځه نو زهٔ به تا له د دې د پاره څهٔ پیسې درکړم، نو آیا د دې مطلب دا دے چې ما په تا باندې رحم وکړو؟

**عبدالله:** نه... ما ستا گاډے ووینځلو، نو پکار دی چې ما ته د دې مزدوری ملاؤ شی.

**اِسمٰعیل:** ښه، کهٔ چرې ما ته معلومه شی چې تهٔ غریب اؤ ضرورت مند یې اؤ زهٔ تا له څهٔ پیسې د گاډی وینځلو نه بغیر د تخفې په طور باندې درکړم... پیسې بیخی هسې درکوم تا له هیڅ کار کول نهٔ دی پکار... نو ستا څهٔ خیال دے چې زهٔ په تا باندې رحم کوم؟

**عبدالله:** آؤ... د دې مطلب به دا وی چې تهٔ ما ته خپل رحم ښايې.

**اِسمٰعيل:** ښه عبدالله... الله پاک عيسیٰ مسيح بغير د څهٔ قيمت نه زمونږ د پاره د يو رحمت په طور راوليږلو. اؤ دا خبره مونږ ته په قرآن کښې شوې ده، په دې کښې وئيلے شوی دی، " اؤ د دې لپاره چې مونږ دے (عيسیٰ) د خلقو لپاره نخښه وګرځوو اؤ له خپل (الله) جانب نه رحمت. اؤ دغه يو فيصله شوے کار دے." (قرآن ١٩: ٢١)

په بل آيت کښې وئيلے شوی دی چې مونږ ته ولې د الله پاک د رحمت ضرورت دے. په دې کښې داسې وئيلے شوی دی، "اؤ کهٔ په تاسو باندې د **الله** فضل اؤ د هغهٔ رحمت نهٔ وی (نو) په تاسو کښې هيڅوک هيڅکله هم (د بهتان له ګناه نه) پاک شوی نهٔ وے..." (قرآن ٢٤: ٢١)

**عبدالله:** زهٔ څنګه د هغهٔ رحمت حاصلولے شم؟

**اِسمٰعيل:** د الله پاک د رحمت په طور باندې په عيسیٰ مسيح خپل ايمان اؤ يقين وساته، څوک چې مونږ پاکولے شی.

**عبدالله:** په عیسیٰ مسیح باندې د الله پاک د رحمت په طور د ایمان اؤ یقین ساتلو نه ستا څهٔ مطلب دے؟

**اِسمٰعیل:** الله پاک غواړی چې مونږ توبه وکړو، خپل ذهن بدل کړو اؤ بل شان سوچ وکړو.

**عبدالله:** د خپل ذهن اؤ سوچ بدلولو نه ستا څهٔ مطلب دے؟

**اِسمٰعیل:** د دې مطلب دا دے چې مونږ له دا ایمان ساتل نهٔ دی پکار چې خپل طاقت سره الله پاک مونږ قبلولے شی، بلکه زمونږ ایمان دا پکار دے چې صرف په عیسیٰ مسیح کښې د الله پاک د فضل اؤ رحم په وسیله هغه مونږ قبلوے شی. بیا مونږ د الله پاک فضل، رحم اؤ معافی پیژندلے شو!

**عبدالله:** داسې ښکاری چې یقیناً الله پاک تا ته اؤ ستا کورنئ ته خپل فضل اؤ رحم ښودلے دے. بهر حال، زهٔ ډیر خوشحاله یم چې ستا ورور ته یوه ښه نوکری ملاؤ شوه. زهٔ واقعی هغهٔ د پاره ډیر خوشحاله یم.

**اِسمٰعیل:** عبدالله، ستا نوکری څنګه ده؟

**عبدالله:** الحمدالله. زما نوکری هم ښه ده، اؤ تنخوا مې هم ډېره ښه ده. زما کار ډېر ښۀ روان دے. اؤ شکر دے ما ته اوس د پیسو هیڅ مسئله نشته.

**اِسمٰعیل:** عبدالله، ډېر ښۀ.

**عبدالله:** زما کار اؤ په کور کښې ټول هر څۀ ډېر ښۀ روان دی، خو بیا هم ځینې وخت زۀ مطمئن نۀ یم. زما مطلب دے چې پیسو اؤ نورو مختلفو څیزونو سره ما ته دومره خوشحالی نۀ ملاویږی.

**اِسمٰعیل:** ستا مطلب دے چې د دې هر څۀ په باوجود تۀ خوشحاله نۀ یې؟

**عبدالله:** بالکل. اِسمٰعیله، تۀ څنګه دومره مطمئن یې؟ تۀ صرف یو اُستاذ یې. اؤ تا ما ته وئیلی دی چې په اُستاذئ کښې تا ته دومره ډېره تنخوا هم نۀ ملاویږی. خو چې کله هم زۀ ستا مخ ته ګورم نو زۀ دا وئیلے شم چې تۀ همیشه خوشحاله اؤ په سکون کښې یې.

**اِسمٰعیل:** عبدالله زما ملګریه، کۀ زما تنخوا لږه هم ده خو بیا هم زۀ د هغه ټول هر څۀ د پاره د الله پاک شکر کوم چې هغۀ ما له راکړی دی. د دې نه علاوه، د دې دنیا هر یو څیز فانی دے. خو زۀ ځکه په

سلامتئ کښې يم چې زۀ په عيسىٰ مسيح ايمان لرم اؤ هغۀ سره سلامتی ده نو هغه خپله سلامتی ما له راکوله شی. عيسىٰ مسيح فرمائيلی دی، "اؤ په ما دې سلامتی وی، په هغې ورځ چې زۀ وزيږول شوم اؤ په هغې ورځ چې زۀ به مرم، اؤ په هغې ورځ چې زۀ به بيا ژوندے راپورته کولے شم." (قرآن ١٩: ٣٣)

**عبدالله:** زۀ سلامتی نۀ محسوسوم. زۀ خپل ځان په روحانی طور مړ محسوسوم.

**اِسمٰعيل:** تا ته د عيسىٰ مسيح اؤ د مرغۍ هغه قيصه ياده ده؟ زما په خيال مونږ د دې قيصې په حقله مخکښې خبرې کړې دی. دا قيصه د دې په حقله ده چې څنګه عيسىٰ مسيح د خټې نه يوه مرغۍ جوړه کړه اؤ هغه يې په يوه ژوندئ مرغۍ کښې بدله کړه. په دې آيت کښې وئيلے شوی دی، "کله چې الله به ووائی: اے عيسىٰ د مريمې زويه! زما هغه نعمتونه ياد کړه چې په تا اؤ ستا په مور باندې شوی دی، کله چې تۀ ما په پاک روح سره قوی کړې، تا به د خلقو سره په غيږ کښې اؤ په پاخۀ عمر کښې خبرې کولې. اؤ کله چې ما تا ته کتاب، اؤ حکمت اؤ

تورات اؤ انجیل وښودلو، اؤ کله چې تا به زما په حکم سره له خټې نه د مرغۍ د شکل په شان (شکل) جوړولو، بیا به تا په هغۀ کښې پوکے ووهلو، نو هغه به زما په حکم سره مرغۍ شوه. اؤ تا به زما په حکم سره پیدائشي ړوند اؤ برګی مرض والا روغول. اؤ کله چې تا زما په حکم سره مړی راوښکل، اؤ کله چې ما له تا نه بنی اسرائیل بند (ایسار) کړل. کله چې تا هغوئ ته ښکاره دلیلونه راوړل، نو په هغوئ کښې کافر شوو خلقو ووئیل، دا یو ښکاره جادو دے." (قرآن ۵: ۱۱۰)

قرآن دا هم وائی چې الله پاک به عیسیٰ مسیح راولیږی، "بنی اسرائیلو ته به رسول وی چې ورته به وائی، بې شکه زۀ چې یم، یقیناً ما تاسو ته ستاسو د رب له طرف نه لویه نخښه راوړې ده، چې یقیناً زۀ تاسو ته له خټې نه د مرغۍ په شان (یو شے) جوړوم. بیا په دې کښې پوکے کوم، نو هغه به د الله په حکم سره الوتونکې مرغۍ شی. اؤ زۀ پیدائشي ړوند اؤ د برګی مرض والا روغوم اؤ مړی ژوندی کوم د الله په حکم سره، اؤ تاسو خبروم په هغه څۀ چې تاسو یې خورئ اؤ په هغه څۀ چې تاسو

بې په خپلو کورونو کښې ذخيره کوئ. بې شکه تاسو لپاره په دې کښې خامخا لويه نخښه ده کۀ چرې تاسو ايمان راوړونکی يئ." (قرآن ۳: ۴۹)

**عبدالله:** آؤ ما ته ياد دی چې مونږ د دې قيصې په حقله مخکښې خبرې کړې وې. دا يوه زبردسته قيصه ده!!

**اِسمٰعيل:** وګوره چې عيسیٰ مسيح څۀ کولے شی. هغه د ختې نه مرغۍ جوړولے شی اؤ بيا دا طاقت لری چې هغه مرغۍ ژوندئ کړی. صرف دا نه، بلکه عيسیٰ مسيح دا طاقت هم لری چې مړۀ خلق راژوندی کړی. الله پاک عيسیٰ مسيح له اختيار ورکړے دے چې د ختې په يوه مرغۍ کښې ساه واچوی اؤ مړۀ خلق بيا راژوندی کړی. د دې مطلب دے چې عيسیٰ مسيح صرف د جسمانی ژوند ورکولو اختيار نۀ لری، بلکه هغه روحانی ژوند هم ورکولے شی. نو ځکه زما دا ايمان دے چې عيسیٰ مسيح ژوند ورکوونکے دے. هغۀ ما له روحانی ژوند راکړے دے.

**عبدالله:** عبدالله تا ته پته ده، تا چې د عيسیٰ مسيح په حقله ما ته څۀ ووئيل نو ما په دې باندې سوچ کولو، خو

زما په زړهٔ کښې اوس هم ډیر سوالونه دی. ستا په خیال مونږ له ولې په عیسیٰ مسیح ایمان راوړل پکار دی اؤ د هغهٔ پیروی کول پکار دی؟

**اِسمٰعیل:** کهٔ چرې تا سره اوس وخت وی، نو مونږ په قرآن کښې یو څو آیتونه کتلے شو اؤ دا معلوملے شو چې په هغې کښې څهٔ وئیلے شوی دی. زما په خیال مونږ په ډیرو آیتونو باندې مخکښې خبرې کړی دی.

**عبدالله:** بالکل، ما سره وخت شته.

**اِسمٰعیل:** ما سره دلته د قرآن مختلفې ترجمې شته. تهٔ آیتونه ما سره لوستلے شې اؤ بیا به درته زهٔ د دې آیتونو په حقله لږ وضاحت وکړم.

1 . په ۲۰ : ۱۲۱ کښې وئیلے شوی دی، "نو دوئ دواړو (ښځې اؤ خاوند) له دغې (ونې) نه خوراک وکړو. نو دوئ ته خپل د شرم ځایونه ښکاره شول اؤ دوئ شروع شول چې په خپلو ځانونو یې د جنت پاڼې انښلولې اؤ آدم د خپل رب نافرمانی وکړه، نو وښویدلو."

دا آیت مونږ ته ښودنه کوی چې څنګه آدم اؤ حوا د الله پاک نافرمانئ کولو سره ګناه وکړه.

2. په ۳۳: ۷۲ کښې وئیلے شوی دی، "بې شکه مونږ آسمانونو اؤ زمکې اؤ غرونو ته امانت وړاندې کړو، نو دوئ د دهٔ له پورته کولو نه انکار وکړو اؤ له دهٔ وویریدل اؤ انسان دغه (امانت) پورته کړو. بې شکه دغه (انسان) دے، ډیر ظالم، ډیر نادان."

دا آیت مونږ ته ښودنه کوی چې د هغه وخت نه پس هر یو کس گناه گار دے. ټول خلق گناه گار دی، صرف لږ خلق نه. مونږ ټولو د الله پاک راکړے شوی امانت د پاره خپل ځانونه بې اعتباره اؤ غیرذمه داره ثابت کړی دی.

3. په ۲۰: ۷٤ کښې وئیلے شوی دی، "بې شکه شان دا دے چې هغه څوک چې خپل رب ته راشی، په دې حال کښې چې کافر وی، نو بې شکه د دهٔ لپاره دوزخ دے، دے به په دې کښې نهٔ مری اؤ نهٔ به ژوندون کوی." (قرآن ۲۰: ۷٤)

دا آیت مونږ ته ښودنه کوی چې الله تعالیٰ پاک دے. مونږ گناه سره د هغهٔ حضورئ ته نهٔ شو تلے. گنې الله تعالیٰ به مونږ د همیشه د پاره دوزخ ته ولیږی.

4. پہ ٥ : ٩٥ کښې وئيلے شوی دی، "اے هغو کسانو چې ایمان یې راوړے دے! تاسو ښکار مهٔ وژنئ، په دې حال کښې چې تاسو په احرام کښې یئ، اؤ په تاسو کښې چې چا هغه قصداً قتل کړو، نو (په هغهٔ) جزا (لازمه) ده. د هغه څاروی به مثل (څاروی) چې دهٔ وژلے دے، په تاسو کښې دوه عدل والا کسان به د دې فیصله کوی، چې کعبې ته رسیدونکې قربانی به وی. یا (د دهٔ په ذمه) کفاره ده چې مسکینانو ته خوراک ورکول دی، یا د دې په برابر روژې نیول دی. د دې لپاره چې د خپل کار سزا وڅکی. الله د هغه څهٔ معافی کړې ده چې مخکښې تیر شوی دی اؤ څوک چې بیا راوګرځی، نو الله به له هغهٔ نه انتقام واخلی، اؤ الله ډیر غالب دے، انتقام والا دے."

دا آیت مونږ ته ښودنه کوی چې کهٔ زمونږ نه ګناه وشی، کهٔ هغه لویه وی یا وړه، نو مونږ به د دې کفاره ورکوو. اؤ زمونږ د ګناهونو کفاره به د دې په برابر ورکولے کیږی. مونږ بیا بیا ګناه کوو، نو کهٔ چرې مونږ ګناه کول جاری وساتو، نو په آخر کښې

به زمونږ د پاره د دې کفاره ورکول څومره زيات شی؟

5. په ٥: ٢٧ کښې وئيلے شوی دی، "اؤ دوئ ته د آدم د دوؤ زامنو خبر په حقه سره ولوله. کله چې هغو دواړو قربانی وړاندې کړه، نو په دوئ کښې له يو څخه قبوله شوه اؤ له بل څخه قبوله نۀ شوه. هغۀ ووئيل، زۀ به خامخا لازماً تا ووژنم. هغۀ (ورته) ووئيل، بې شکه هم دا خبره ده چې الله له پرهيزګارانو څخه (قرباني) قبلوی."

اؤ په ٢٢: ٣٧ کښې وئيلے شوی دی، "الله تعالیٰ ته نۀ خو د دې څناور غوښه رسيږی اؤ نۀ يې وينه، بلکه هغۀ ته ستاسو صرف پرهيزګاری رسيږی". (قرآن ٢٢: ٣٧)

په دې آيتونو کښې مونږ ته ښودنه شوې ده چې خلق څنګه دا کوشش کوی چې د څناورو قربانئ وړاندې کړی اؤ دا ايمان وساتی چې غوښې اؤ وينې سره به الله پاک خوشحاله شی، خو په قرآن کښې وئيلے شوی دی چې دا الله پاک ته نۀ رسيږی. خلقو الله پاک ته قربانئ کول شروع کړې، خو الله پاک صرف د صادق سړی قربانی قبوله کړه. خو چې

ټول خلق ګناه ګار دی نو بیا څنګه یو کس صادق جوړیدلے شی؟

6. په ۷۴: ۵٦ کښې وئیلے شوی دی، "اؤ دوئ نصیحت نۀ اخلی مګر کۀ الله یې وغواړی. هم دے د یرې لائق دے اؤ د بخښنې اهل دے."

دا آیت مونږ ته ښودنه کوی چې مونږ په خپله خپل ځان صادق نۀ شو جوړولے. صداقت د الله پاک له طرفه دے اؤ هغه خلق صادق جوړوی، مونږ دا صداقت په خپلو ښو کارونو یا قربانو وړاندې کولو سره نۀ شو ګټلے.

7. په ۵: ۳۳ کښې وئیلے شوی دی، "بې شکه اصل خبره هم دا ده چې څوک چې د الله اؤ د هغۀ له رسول سره جنګ کوی اؤ په زمکه کښې د ورانی کولو کوشش کوی، د هغوئ سزا دا ده چې دوئ دې قتل کړے شی. یا دې په دار کړے شی، یا دې د دوئ لاسونه اؤ پښې ادلې بدلې پرې کړے شی، یا دې دوئ له (دغې) زمکې نه وشړل شی. دا د دوئ لپاره په دنیا کښې رسوائی ده اؤ د دوئ لپاره په آخرت کښې بیخی لوئ عذاب دے."

د دې مطلب دے چې د ګناه ګارانو د پاره سزا دا ده چې هغوئ دې ووژلے شی، په دار دې وخیژولے شی، د هغوئ لاسونه اؤ پښې دې ادلې بدلې پرې کړے شی، یا دې د هغه زمکې نه وشړلے شی. اؤ هغوئ به په دې دنیا کښې رسوا شی اؤ د دې زیاته خرابه خبره دا ده چې هغوئ به په آخرت کښې هم لوئ عذاب ته مخامخ شی.

نو عبدالله، دې ټولو حوالو ته کتلو نه پس، ستا څهٔ خیال دے چې مونږ د الله پاک سزا نه بچ کیدے شو؟

**عبدالله:** الله پاک چې د ګناه ګارانو د پاره کومه سزا مقرر کړې ده نو د دې په حقله د اؤریدو نه پس زهٔ دا سوچ کوم چې مونږ د الله پاک د سزا نه نهٔ شو بچ کیدے؟

**اِسمٰعیل:** ولې؟

**عبدالله:** ځکه چې کله زهٔ د دې په حقله سوچ کوم، نو ما ته داسې ښکاری چې یو کس هم کامل نشته. زمونږ د ټولو نه غلطئ کیږی اؤ هیڅوک هم پوره پاک نشته.

**اِسمٰعیل:** نو مونږ د سزا حقدار یو، ټیک ده کنه؟

**عبدالله:** آؤ، زما هم دا خیال دے. خو تهٔ ما ته دا ولې وایې؟

**اِسمٰعیل:** زهٔ ځکه تا ته دا وایم چې زهٔ غواړم چې تهٔ په دې باندې سوچ وکړې چې زمونږ د ګناه انجام په اصل کښې څومره خراب دے!!! تهٔ لږ د هغه سزاګانو په حقله سوچ کولے شې کومې چې مونږ ته د ګناه کولو نه پس ملاویږی؟

**عبدالله:** دا ډیرې یرې‌ونکې سزاګانې دی، نو زهٔ نهٔ غواړم چې د دې په حقله سوچ وکړم.

**اِسمٰعیل:** نو عبدالله، څنګه دې خوښه ده که تهٔ ما ته دَ قرآن نه یو آیت ولولې؟

**عبدالله:** بیا به هم زهٔ په دې سوچ نهٔ کوم.

**اِسمٰعیل:** نو زهٔ دا خبره کولے شم چې تهٔ نهٔ غواړې دې سزاګانو ته مخامخ شې، ولې داسې نهٔ ده؟

**عبدالله:** یقیناً چې زهٔ نهٔ غواړم!

**اِسمٰعیل:** اؤ نهٔ زهٔ داسې غواړم. زما په خیال هیڅوک هم نهٔ غواړی چې داسې قسمه یرې‌ونکو سزاګانو ته مخامخ شی.

**عبدالله:** زهٔ دا اُمید ساتم چې دا ما ته راپیښې نهٔ شی...

**اِسمٰعیل:** بخښنه غواړم عبدالله، خو دا به ټولو ګناهونو ته راپېښېږی.

**عبدالله:** خو الله پاک بخښونکے دے.

**اِسمٰعیل:** آؤ، خو الله پاک انصاف کوونکے هم دے. هر څوک چې ګناهونه کوی نو هغه د سزا حقدار دے.

**عبدالله:** خو الله پاک رحیم اؤ مهربانه دے.

**اِسمٰعیل:** آؤ، عبدالله ستا خبره بالکل صحیح ده. ځکه خو الله پاک زمونږ د پاره د یوې لارې بندوبست وکړو چې مونږ پرې د دوزخ د سزا نه بچ کړی.

**عبدالله:** هغه څنګه؟

**اِسمٰعیل:** راځه چې ٥: ٣٣ ته یو ځل بیا وګورو. دا ځل به زۀ دا ستا د قرآن نه ولولم. "بې شکه اصل خبره هم دا ده چې څوک چې د الله اؤ د هغۀ له رسول سره جنګ کوی اؤ په زمکه کښې د ورانی کولو کوشش کوی، د هغوئ سزا دا ده چې دوئ دې قتل کړے شی. یا دې په دار کړے شی، یا دې د دوئ لاسونه اؤ پښې ادلې بدلې پرې کړے شی، یا دې دوئ له (دغې) زمکې نه وشړل شی. دا د دوئ لپاره په دنیا کښې رسوائی ده اؤ د دوئ لپاره په آخرت کښې بیخی لوئ عذاب دے."

مهرباني وکړه اؤ د هغه ټولو په حقله لږ سوچ وکړه د کومو چې مونږ حقدار یو، قتل کړے شو، په دار کړے شو، یا دې لاسونه اؤ پښې ادلې بدلې پرې کړے شي، د دغې زمکې نه وشړل شو، په دې دنیا کښې دې رسوا شو اؤ په آخرت کښې دې بیخی لوئ عذاب ته مخامخ شو. نو عبدالله، د دې په حقله لږ سوچ وکړه... کۀ چرې الله پاک راشی اؤ درته ووائی، "عبدالله، زۀ انصاف کوونکے یم، زۀ تا له سزا درکوم ځکه چې تۀ ګناه ګار یې، خو دې سره سره زۀ تا سره ډیره زیاته مینه کوم. ځکه چې زۀ رحیم اؤ مهربان یم اؤ زۀ نۀ غواړم چې تۀ سزا وزغمې. ما ستا د پاره د دې سزا نه بچ کیدو د پاره یوه لار جوړه کړې ده. نو زما دا لار زما د رحم په طور ویړیا واخله. زما رحم دا دے. ما سره داسې څوک شته چې هغه په خپله مرضئ ستا سزا اخستلو د پاره تیار دے. هغه زما د روح القدوس په وسیله پیدا شو. هغه زما کلام دے. هغه زمونږ د رحمت په طور پیدا شو. هغه پاک دے. هغه ستا د پاره قتل کړے شو. هغه ستا د پاره په سولئ کړے شو. د هغۀ لاسونه اؤ د هغۀ پښې ستا د سزا د پاره زخمی

کړے شول. ما هغه د مړو نه بیا راژوندے کړو، نو تهٔ په مرګ باندې غالب کیدے شې اؤ په جنت کښې تل عمری ژوند هم حاصلولے شې. اؤ هغه به په دې دنیا کښې اؤ په آخرت کښې هم ستا مرسته کوی ځکه چې ما هغه په دې دنیا اؤ په آخرت دواړو کښې ډیر مخور کړے دے. کهٔ چرې تهٔ د خپلې سزا د پاره هغه قبلوې نو بیا تهٔ د عدالت نه آزاد یې!" نو عبدالله... الله پاک انصاف کوونکے دے، ولې داسې نهٔ ده؟

**عبدالله:** آؤ...

**اِسمٰعیل:** نو کهٔ چرې الله پاک ستا د پاره د یو داسې کس بندوبست کړے دے، آیا تهٔ به د هغهٔ دا تحفه قبوله کړې؟

**عبدالله:** یقیناً زهٔ به د هغهٔ دا تحفه قبوله کړم. دا خو به زما کم عقلتوب وی چې هغه څوک قبول نهٔ کړم څوک چې زما سزا په خپل ځان اخستل غواړی... چې الله پاک ما له یو داسې کس راکوی څوک چې زما سزا اخستلو د پاره تیار دے. زهٔ به الله پاک ته په سجده شم اؤ د هغهٔ د رحم د پاره به شکر وکړم

چې زما د پاره يې د يو داسې کس بندوبست وکړو
څوک چې زما د ګناهونو سزا په خپل ځان اخلي.

**اِسمٰعيل**: عبدالله، دا صرف يوه قيصه نۀ ده... الله پاک
واقعی مونږ سره مينه کوی!!! هغۀ زمونږ د سزا
زغملو د پاره عيسىٰ مسيح راواستولو. کۀ چرې مونږ
عيسىٰ مسيح د يوې لوئې قربانۍ په طور قبول کړو اؤ
دا ايمان وساتو چې الله پاک هغه زمونږ د پاره فديه
وګرځولو، نو بيا به مونږ د دوزخ د سزا نه بچ شو.
عيسىٰ مسيح قتل کړے شو، هغه په سولۍ کړے
شو، د هغۀ لاسونه اؤ پښې زخمی کړے شول. د
کومې سزا چې مونږ حقدار وو نو هغۀ دا ټول هر څۀ
زمونږ په ځائې د سزا زغملو د پاره وکړل.

په ۳: ۵۵ کښې وئيلے شوی دی چې الله پاک
عيسىٰ مسيح مرګ د پاره راوليږلو اؤ د مړو نه يې بيا
راژوندے کړو اؤ خپل طرف ته يې وخيژولو. اؤ د
دې په نتيجه کښې الله پاک دا وعده وکړه چې هغه
به د عيسىٰ مسيح پيروی کوونکی خلق د منکرانو د
پاسه کړی.

"کله چې الله وفرمائيل، اے عيسىٰ زۀ به تا واپس
واخلم اؤ خپل طرف ته به دې راوخيژوم اؤ د کافرانو

(د تهمت) نه به دې پاک کړم. اؤ ستا پیروی کوونکی خلق به تر قیامته پورې د منکرانو د پاسه کړم... (قرآن ۳: ۵۵)

نو عبدالله، کۀ چرې زمونږ په عیسیٰ مسیح باندې ایمان وی اؤ د هغۀ پیروی کوو نو مونږ به اوچت کړے شو اؤ په جنت کښې به اوسیږو.

**عبدالله:** ما همیشه دا سوچ کولو چې د ښۀ انسان جوړیدو سره اؤ ښۀ کارونو کولو سره به الله پاک ما قبول کړی. اؤ زۀ همیشه په دې اُمید کښې وم چې الله پاک به ما جنت ته بوځی. خو اوس تۀ ما ته وایې چې صرف د الله پاک په فضل اؤ رحم سره اؤ په عیسیٰ مسیح باندې ایمان راوړلو اؤ د هغۀ پیروی کولو سره الله پاک ما قبلولے شی. مونږ څنګه د الله پاک فضل اؤ رحم حاصلولے شو؟

**اِسمٰعیل:** آیا تۀ غواړې چې اوس عیسیٰ مسیح له بلنه ورکړې؟

**عبدالله:** ما ته پته نشته چې څۀ ووایم...

**اِسمٰعیل:** کۀ چرې زۀ دعا وکړم نو ستا څۀ خیال دے؟

**عبدالله:** بالکل. اِسمٰعیله ډیره مننه.

**اِسمٰعیل:** بسم الله. الحمدالله، یا الله زهٔ د حضرت محمد د پاره ستا ډیر شکر کوم څوک چې د یو حبرداری په طور راغلو، چې ما د هغه خرابې سزا نه خبر کړی کومه چې به زما په شان ګناه ګار د پاره وی. یا الله، زهٔ د دې د پاره هم ستا ډیر شکر کوم چې تا د عیسیٰ مسیح د رالیږلو په وسیله باندې ما ته خپل فضل اؤ رحم وښودلو اؤ هغهٔ زما د ګناه سزا په خپل ځان واخستله. یا الله ستا شکر کوم چې تا عیسیٰ مسیح د مړو نه بیا راژوندے کړو اؤ آسمان ته دې وخیژولو، نو زهٔ به هم د مرګ نه پس په آسمان کښې یم. آمین.

**د دې نه پس زهٔ اؤ عبدالله به مسلسل ملاویدو، روحانی خبرې اؤ دعا به مو کوله.**

❖ ❖

"بې شکه اصل خبره هم دا ده چې څوک چې د الله اؤ د هغۀ له رسول سره جنګ کوی اؤ په زمکه کښې د ورانی کولو کوشش کوی، د هغوئ سزا دا ده چې دوئ دې قتل کړے شی. یا دې په دار کړے شی، یا دې د دوئ لاسونه اؤ پښې ادلې بدلې پرې کړے شی، یا دې دوئ له (دغې) زمکې نه وشړل شی. دا د دوئ لپاره په دنیا کښې رسوائی ده اؤ د دوئ لپاره په آخرت کښې بیخی لوئ عذاب دے." (قرآن ٥: ٣٣)

"مګر هغه کسان چې توبه وباسی مخکښې له دې نه چې تاسو په دوئ باندې قابو ومومئ، نو پوهه شئ چې یقیناً الله ډیر بخښونکے، بې حده مهربان دے." (قرآن ٥: ٣٤)

الحمدالله! مونږ د الله پاک شکر کوو چې تر څو پورې مونږ په دې دنیا کښې یو نو مونږ د خپلو ګناهونو نه د هغۀ بخښنه حاصلولے شو. دا به زمونږ د پاره څومره یروونکې خبره وی چې مونږ په عیسیٰ مسیح کښې د الله پاک د فضل اؤ رحم پیژندلو نه مخکښې مړۀ شو.

الحمدالله، مونږ شکر کوو چې الله پاک مونږ ته دا ښودنه وکړه چې صرف په مالک عیسیٰ مسیح کښې د الله پاک په فضل اؤ رحم سره مونږ د خپلو ګناهونو بخښنه حاصلولے شو اؤ په آسمان کښې د تل عمری ژوندون وارثان جوړیدلے شو.

الحمدالله، مونږ د الله پاک شکر کوو چې هغۀ زمونږ زړونه کولاؤ کړل چې د عیسیٰ مسیح په وسیله باندې د هغۀ د فضل اؤ رحم نیغه لار وپیژنو، څوک چې زمونږ د دې دنیا اؤ د آخرت د سزا په خاطر قتل کړے شو، په سولئ کړے شو اؤ په لاسونو اؤ پښو یې زخمونه برداشت کړل.

"زما دا دعا ده چې د دې کتاب لوستلو سره تاسو ته سلامتی ملاؤ شی."

**الله پاک دې ستاسو زړۀ کولاؤ کړی**

**چې د هغۀ فضل اؤ رحم وپیژنئ.**

**آمین.**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته**

**اِسمٰعیل:** آؤ. عبدالله، د دې په حقله سوچ وکړه. حضرت آدم اؤ بی بی حوا ګناه وکړه، بیا د هغوئ اؤلاد ګناه وکړه، اؤ بیا د هغوئ ټول نسل ګناه وکړه. مونږ په قرآن کښې کتلے شو چې هغوئ سره څۀ وشول. په دې کښې وئیلے شوی دی، "اؤ مونږ ووئیل: اے آدمه! اوسیږه تۀ اؤ ستا ښځه په جنت کښې، اؤ دواړه له هغه (د جنت له میوو) نه پریمانه (په مزې سره) خوراک کوئ کوم ځائ چې مو خوښه وی، اؤ تاسو دواړه دې ونې ته مۀ نزدې کیږئ، ګنې تاسو به له ظالمانو نه شئ." (قرآن ۲: ۳۵)

الله پاک هغوئ له د هر څۀ اجازت ورکړے وو خو صرف د یوې ونې میوې خوړلو نه

یې منع کړی وو. خو تا ته پته شته چې هغوئ څۀ وکړل؟

**عبدالله:** هغوئ د الله پاک د حکم نافرمانی وکړه؟

**اِسمٰعیل:** ستا خبره صحیح ده! په قرآن کښې وئیلے شوی دی، "اؤ یقیناً په تحقیق سره مونږ آدم ته له دې نه مخکښې حکم کړے وو، نو هغۀ هیر کړو اؤ مونږ د دۀ پخه اراده ونۀ مونده."

اؤ تا ته پته شته چې د دې نه پس بیا څۀ وشول؟ د دې نه پس وئیلے شوی دی، "نو دوئ دواړو له دغې (ونې) نه خوراک وکړو، نو دوئ ته خپل د شرم ځایونه ښکاره شول اؤ دوئ شروع شول چې په خپلو ځانونو یې د جنت پاڼې نښلولې اؤ آدم د خپل رب نافرمانی وکړه، نو وښویدلو." (قرآن ۲۰: ۱۲۱)

په دې آیت کښې مونږ ته وئیلے شوی دی چې څنګه آدم اؤ حوا د الله پاک د حکم منلو په ځائ باندې د شیطان خبره ومنله. زما پوره یقین دے چې کله الله پاک ته معلومه شوه چې آدم د هغۀ د تابعدارئ کولو په ځائ باندې د شیطان تابعداری کړې ده نو هغه به په دې ډیر خفه شوے وی. په قرآن کښې مونږ ته وئیلے شوی دی، "نو دۀ ته شیطان وسوسه واچوله، وې وئیل: اے آدمه! آیا زۀ تا ته د تل ژوندی پاتې کیدلو ونه وښایم اؤ داسې بادشاهی چې نۀ به ختمیږی؟" (قرآن ۲۰: ۱۲۰)

**عبدالله:** داسې ښکاری چې شیطان هغوئ سره د دې دنیا وعده کړې وه. نو بیا په دې کښې څۀ حیرانتیا نشته چې هغوئ د شیطان خبره ومنله.

**اِسمٰعیل:** آؤ، خو الله پاک د مخکښې نه هغوئ ته وئیلی وو چې شیطان د هغوئ دښمن دے. په دې کښې وئیلے شوی دی، "نو مونږ آدم ته ووئیل: بې شکه دا شیطان ستا اؤ ستا د ښځې دښمن دے، نو دے دې تاسو هرګز له جنت نه ونهٔ باسی. ګنې نو په مشقت کښې به پریوځئ." (قرآن ۲۰: ۱۱۷)

**عبدالله:** نو آدم اؤ حوا په ډیرو خرابو حالاتو کښې راګیر شول، ولې داسې نهٔ ده؟

**اِسمٰعیل:** صرف آدم اؤ حوا نه، بلکه د هغوئ اؤلاد هم. په قرآن کښې وئیلے شوی دی، "اؤ دوئ ته د آدم د دوؤ زامنو خبر په حقه سره ولوله. کله چې هغو دواړو قربانی وړاندې کړه، نو په دوئ کښې له یو څخه قبوله شوه اؤ له بل څخه قبوله نهٔ شوه. هغهٔ ووئیل، زهٔ به خامخا لازماً تا ووژنم. هغهٔ (ورته) ووئیل، بې شکه هم دا خبره ده چې الله له پرهیزګارانو څخه (قربانی) قبلوی." (قرآن ٥: ۲۷)

اؤ تهٔ دا په ورپسې آیتونو کښې هم کتلے شې، "نو هغهٔ ته خپل نفس د خپل ورور وژل ښکلی اؤ آسان کړل، نو هغه یې قتل کړو نو شو له تاوانیانو نه." (قرآن ٥: ۳۰)

د دې نه پس قرآن مونږ ته وائی چې هر يو کس ګناه ګار دے. په دې کښې وئيلے شوی دی، "بې شکه انسان خامخا ډېر ګناه ګار اؤ ډېر ناشکره دے." (قرآن ١٤: ٣٤)

يو بل آيت کښې داسې وئيلے شوی دی، "بې شکه دغه (انسان) دے، ډېر ګناه ګار، ډېر نادان." (قرآن ٣٣: ٧٢)

نو عبدالله تا وکتل، صرف يو څو کسان نه، بلکه ټول خلق ګناه ګار دی.

**عبدالله:** مونږ انسانان يو. کله کله زمونږ ټولو نه غلطئ کيږی.

**اِسمٰعيل:** عبدالله، دا صرف يوه وړه غلطی نۀ ده. مونږ هم لکه د آدم اؤ حوا په شان بد يو ځکه چې مونږ اکثر د الله پاک نافرمانی خوښوو اؤ هغه کارونه کوو چې هغۀ ترې نه منع کړی يو.

**عبدالله:** ټيک ده، کيدے شی چې کله کله زمونږ په زړۀ کښې د الله پاک د نافرمانئ کولو خواهش راشی، خو ستا څۀ خيال دے چې الله پاک بيا هم آدم اؤ حوا سره مينه نۀ کوله؟ د دې هر څۀ په باوجود هغۀ هغوئ معاف کړل، ټيک ده کنه؟

**اِسمٰعیل:** آؤ، هغهٔ هغوئ سره مینه کوله اؤ د هغوئ د معاف کولو وعده یې ورسره کړې وه، خو صرف په دې شرط کهٔ چرې هغوئ د هغهٔ په حکمونو عمل وکړی.

**عبدالله:** حکمونو؟ په کومو حکمونو؟

**اِسمٰعیل:** په قرآن کښې الله پاک آدم اؤ حوا ته وفرمائیل، "مونږ ووئیل: تاسو ټول له دې (جنت) نه کوز شئ. نو کهٔ زما له طرف نه تاسو ته کوم هدایت راغے، نو چا چې زما د هدایت پیروی وکړه، نو په هغوئ باندې نهٔ څهٔ ویره شته اؤ نهٔ به هغوئ غمژن کیږی." (قرآن ۲: ۳۸)

عبدالله، تا ته پته شته چې دا هدایت څهٔ وو؟

**عبدالله:** ما ته پته نشته.

**اِسمٰعیل:** په قرآن کښې وئیلے شوی دی، "بیا مونږ په دغې پیغمبرانو پسې عیسیٰ زوئ د مریم راولیږلو، چې د هغه کتاب تصدیق یې کولو چې له دې نه وړاندې وو یعنی تورات، اؤ مونږ هغهٔ له انجیل ورکړو چې په هغې کښې هدایت اؤ رڼا وه، اؤ دا کتاب تصدیق کوونکے وو د تورات چې له دې نه وړاندې نازل

شوے وو، اؤ دا د پرهیزګارانو د پاره هدایت اؤ نصیحت وو". (قرآن ٥ : ٤٦)

**عبدالله:** اِسمٰعیله، د دې نه ستا څۀ مقصد دے؟

**اِسمٰعیل:** کله چې آدم اؤ حوا ګناه وکړه، الله پاک صرف په یو شرط هغوئ معاف کړل. اؤ هغه شرط د هغۀ په هدایاتو باندې عمل کول وو. الله پاک هغوئ سره یوه وعده هم وکړه، چې څوک هم د هغۀ په هدایاتو باندې عمل کوی نو نۀ په هغوئ څۀ یره شته اؤ نۀ به هغوئ غمژن کیږی. په قرآن کښې بیا دا هم وئیلے شوی دی چې انجیل هدایت اؤ رڼا ده. نو په دې کښې مونږ ته وئیلے شوی دی چې د الله پاک په هدایاتو باندې عمل وکړو، اؤ هغه انجیل دے. بیا به الله پاک مونږ د یرې نه بچ وساتی.

**عبدالله:** همم... په یوه خبره زۀ نۀ پوهیږم چې الله پاک ولې عیسیٰ مسیح راولیږلو.

**اِسمٰعیل:** عبدالله، الله پاک عیسیٰ مسیح دې د پاره راولیږلو چې د حقیقت تصدیق وکړی اؤ د الله پاک هدایت اؤ رڼا مونږ ته راکړی. حقیقت دا دے، مونږ ټول ګناه ګار یو اؤ چې ګناه ګار یو نو مونږ د خپلې ګناه د انجام اؤ هغه سزا نه یریږو کومې ته چې به په

راتلونکی وخت کښې مخامخ کيږو. خو الله پاک مونږ له خپل فضل اؤ رحم راکړے دے نو اوس به مونږ د خپلو ګناهونو سزا ته نۀ مخامخ کيږو. الله پاک عيسیٰ مسيح دې د پاره راوليږلو چې مونږ ته خپل رحم ښکاره کړی. نو اوس مونږ له د دې په حقله نوره يره نۀ ده پکار چې د مرګ نه پس به مونږ سره څۀ کيږی.

**عبدالله:** خو اِسمٰعيله، زۀ په دې نۀ پوهيږم چې الله پاک به ولې عيسیٰ مسيح د خپل رحم ښودلو د پاره راليږلو. د عيسیٰ مسيح اؤ د الله پاک د رحم په خپلو کښې څۀ تعلق دے؟

**اِسمٰعيل:** عبدالله، الله پاک عيسیٰ مسيح زمونږ د ګناهونو د پاره د يوې لويې قربانۍ په طور راوليږلو چې مونږ د دوزخ د سزا نه بچ کړی.

**عبدالله:** همم... زۀ په دې نۀ پوهيږم...

**اِسمٰعيل:** عبدالله، هيڅ خبره نۀ ده. کله چې زۀ د الله پاک په حقله سوچ کوم، نو داسې ډيرې خبرې شته چې په هغې باندې زۀ هم نۀ پوهيږم. خو قرآن مونږ ته دا ښودنه نۀ کوی چې په خپله پوهه باندې ملا وتړو، دا مونږ ته ښودنه کوی چې په خپل ايمان باندې يقين

وساتو. عبدالله، کله چې ته قرآن لولې، نو تا چرته دا سوچ کړے دے چې څومره حوالې دې ټکی سره شروع کیږی، "ایماندارانو..."؟ په دې کښې دا نهٔ وائی، "تاسو چې پوهیږئ..."

**عبدالله:** آؤ، ما ته پته ده. ما دا آیتونه لوستلی دی... زهٔ یو ایماندار یم. نو تهٔ ما ته څهٔ وئیل غواړې؟

**اِسمٰعیل:** زهٔ تا ته د دې وئیلو کوشش کوم، کهٔ چرې مونږ د دې په حقله لږ سوچ وکړو چې خلق د چرته نه راځی، نو ډیر خلق د مرګ نه یریږی، اؤ تا ته پته شته چې ولې؟ دا ځکه چې هغوئ په هغه څهٔ باندې په رښتیا یقین نهٔ ساتی څهٔ چې ورته الله پاک څرګند کړی وی. اؤ چې هغوئ ایمان نهٔ لری نو هغوئ د پاره هیڅ اُمید نشته، ځکه چې هغوئ نهٔ دی خبر چې د مرګ نه پس به ورسره څهٔ کیږی. نو هغوئ یریږی چې په ورځ د آخرت به څهٔ کیږی.

**عبدالله:** ښه، تا ته دا څنګه پته ده چې د آخرت په ورځ به تا سره څهٔ کیږی؟

**اِسمٰعیل:** ما ته پته ده عبدالله، خو ما ته به تر هغې پورې پته نهٔ وه چې د مرګ نه پس به ما سره څهٔ کیږی تر څو چې راته چا وئیلی نهٔ وو. خو زهٔ داسې څوک پیژنم

چې ورته دا پته ده چې په ورځ د آخرت به ما سره څهٔ کيږی.

**عبدالله:** ستا څهٔ مطلب دے؟

**اِسمٰعيل:** زهٔ به تا له يو مثال درکړم نو تهٔ به زما په مطلب باندې پوهه شې. فرض کړه چې تهٔ بل وطن کښې يو ښار ته د تلو د پاره منصوبه جوړوې. دا د هغه وطن يو داسې ښار دے چې تا هډو ليدلے نهٔ دے. نو تر څو پورې چې ستا څوک پيژندګلو واله هلته کښې نهٔ وی نو زما په خيال تهٔ هلته نهٔ شې تلے، ټيک ده کنه؟ اؤ تا ته پته شته چې ولې؟

**عبدالله:** زما په خيال دا ځکه چې ما ته د هغه ځائ لارې کوڅې نهٔ دې معلومې نو زما نه لار خطا کيدے شی. خو زهٔ داسې هم کولے شم چې يوه نقشه واخلم اؤ په هغې کښې لار معلومه کړم.

**اِسمٰعيل:** آؤ، خو ستا څهٔ خيال دے چې په نقشه کښې دا معلومات به يو داسې کس نهٔ وی ورکړی څهٔ څوک چې په خپله هغه ځائ ته مخکښې تلے وی؟
عبدالله: آؤ، ستا خبره صحيح ده.

**اِسمٰعيل:** نو ګوره، تا ته د يو داسې کس ضرورت دے څوک چې درله معلومات درکولے شی اؤ درته وئيلے

شی چې څنګه به په هغه ښار کښې خپله لار معلومولې؟

**عبدالله:** ټيک ده.

**اِسمٰعیل:** نو چې چرته تۀ ځې اؤ هلته کښې ستا پیژندګلو واله څوک وی، یا تۀ داسې یو کس پیژنې څوک چې مخکښې هلته تلے وی اؤ درته وئیلے شی چې تا له چرته تلل پکار دی اؤ څنګه به هغه ځائ ته رسې، نو بیا تا له دا فکر کول نۀ دی پکار چې ورک به شې.

**عبدالله:** خو ځینې وخت دا هم ډیره خوندوره خبره وی چې درته نۀ وی معلومه چې چرته روان یې. کیدے شی بیا تۀ د خپل سفر زبردستې قیصې نورو خلقو ته وکړې.

**اِسمٰعیل:** ښه، ستا خبره صحیح ده کله کله په سفر کښې داسې کیږی. خو مونږ دا خبره معلوموو چې د مرګ نه پس به مونږ سره څۀ کیږی. آیا تۀ واقعی داسې غواړې چې یوه موقعه درته ملاؤ شی اؤ په هغې کښې تۀ غلط ځائ ته ورسې؟

**عبدالله:** ټيک ده، دا دې ډیر ښه خبره وکړه اِسمٰعیله.

**اِسمٰعیل:** د دې نه علاوه، لکه څنګه چې ما درته ووئیل، ډیر خلق د مرګ اؤ د قیامت ورځې نه یریږی، ځکه چې هغوئ ته نۀ وی معلومه چې د مرګ نه پس به ورسره څۀ کیږی، اؤ هغوئ د عدالت نه هم یریږی.

**عبدالله:** خو داسې خلق هم شته چې د دې هیڅ پرواه نۀ کوی چې د مرګ نه پس به ورسره څۀ کیږی. هغوئ وائی چې دا هیڅوک هم نۀ شی پیژندلے چې د مرګ نه پس به هغوئ سره څۀ کیږی

**اِسمٰعیل:** دوئ خو لکه د هغه خلقو په شان دی چې ما یې درته مثال درکړو. دوئ یو بل وطن کښې یو نوی ښار ته ځی، خو دا ورته نۀ وی معلومه چې هلته به څنګه رسی، یا چې هلته ورسی نو بیا به څۀ کیږی. دا خبره یقینی ده چې هغوئ به هلته روک شی.

**عبدالله:** اِسمٰعیله، دَ خپل ځان په حقله دې څۀ خیال دے؟

**اِسمٰعیل:** زۀ د دې نه نۀ یریږم چې د مرګ نه پس به ما سره څۀ کیږی، اؤ زۀ د دې نه هم نۀ یریږم چې په ورځ د آخرت یا د هغې نه پس به ما سره څۀ کیږی.

**عبدالله:** تۀ څنګه دا خبره کولے شې؟ تۀ خو ډیرې لافې وهې. د دې نه علاوه، زما په خیال هیڅوک هم دا

نهٔ شی پیژندلے چې د مرګ نه پس به هغوئ سره څهٔ کیږی. صرف الله پاک ته د دې پته ده.

**اِسمٰعیل:** عبدالله، زهٔ لافې نهٔ وهم. زما پوره یقین دے اؤ تسلی راته ملاؤ ده چې د مرګ نه پس به ما سره څهٔ کیږی، اؤ د دې بنیاد په هغه څهٔ باندې نهٔ دے چې ما یې په خپل ذهن کښې خوبونه لیدل، بلکه دا هر څهٔ د عیسیٰ مسیح په وجه دی. په قرآن کښې وئیلے شوی دی، "کله چې ملایکو ووئیل: اے مریمې! بې شکه الله تا ته له خپل طرف نه د یوې کلمې زیرے درکوی، چې د هغهٔ نوم مسیح عیسیٰ زوے د مریم دے. چې په دنیا اؤ آخرت کښې به ډیر مخور وی اؤ له مقربینو څخه به وی." (قرآن ٣: ٤٥)

**عبدالله:** نو عیسیٰ مسیح څنګه ستا مرسته کولے شی؟

**اِسمٰعیل:** دا بالکل لکه د هغه قیصې په شان دی چې ما درته وکړه. کهٔ چرې زهٔ په بل وطن کښې داسې ښار ته لاړ شم چې مخکښې کله هم نهٔ یم تلے، کهٔ زهٔ هلته څوک نهٔ پیژنم، نو ورک به شم. خو زهٔ اوس داسې څوک پیژنم چې هغه په آخرت کښې موجود دے. الحمدالله، زهٔ عیسیٰ مسیح پیژنم څوک چې

الله پاک ته ډیر نزدې دے. هغه په دې دنیا اؤ آخرت کښې ډیر مخور دے. نو کله چې زۀ مړ شم، نو زۀ به نۀ ورکیږم.

**عبدالله:** خو د قیامت د ورځې په حقله دې څۀ خیال دے؟ ولې تۀ د هغې نه هم نۀ یریږې؟

**اِسمٰعیل:** زۀ به ولې ویریږم؟ ما ته پته ده چې الله پاک عیسیٰ مسیح رالیږلے وو اؤ هغۀ ته دا پته ده چې د قیامت په ورځ به څۀ کیږی. په قرآن کښې وئیلے شوی دی، "اؤ بې شکه دغه (عیسیٰ) د قیامت لپاره یقیناً یوه لویه نخښه ده، نو تاسو د دغه (قیامت) په باره کښې له سره شک مۀ کوئ، خو زما پیروی کوی، دا نیغه لار ده. (قرآن ٤٣ : ٦١)

نو د کله نه چې ما د عیسیٰ مسیح پیروی شروع کړې ده اؤ هغه مې د الله پاک د رحمت په طور قبول کړے دے نو اوس ما له د قیامت د ورځې په حقله فکرمند کیدل نۀ دی پکار.

**عبدالله:** زما دا ایمان دے چې عیسیٰ مسیح به په دویم ځل دې دنیا ته راځی.

**اِسمٰعیل:** ډیر مسلمانان په دې خبره ایمان ساتی اؤ زما هم په دې ایمان دے. د عیسیٰ مسیح دې دنیا ته د

واپس راتلو په حقله لږ سوچ کولے شې؟ په لاکونو خلق به هغه ووینی. زما ایمان دے چې ډیر خلق به په دروغه وائی چې هغوئ عیسیٰ مسیح سره د ملاویدو تلوسه لری، خو یاد ساته چې عیسیٰ مسیح به خپل رښتینی منونکی پیژنی.

**عبدالله:** ستا څۀ مطلب دے، چې هغه به هغه خلق پیژنی څوک چې واقعی د هغۀ پیروی کوی؟ ستا مطلب دے عیسایان، ټیک ده کنه؟

**اِسمٰعیل:** نه عبدالله. زما مطلب هر هغه څوک دی چې په عیسیٰ مسیح بې ایمان راوړے وی اؤ د هغۀ پیروی کوی. دا هیڅ مسئله نۀ ده چې هغوئ کوم مذهب سره تعلق ساتی. عیسیٰ مسیح خلقو ته دا نۀ وائی چې عیسایان جوړ شئ. عیسیٰ مسیح وئیلی دی، "تاسو له مې د حکمت خبرې راوړې دی اؤ ځکه راغلے یم چې تاسو ته ځنې خبرې صفا کړم چې تاسو په کښې اختلافونه کوئ. نو د الله نه ویریږئ اؤ زما خبرې ومنئ. بې شکه الله زما هم رب دے اؤ ستاسو هم رب دے، نو د هغۀ عبادت کوئ. هم دا سمه نیغه لار ده." (قرآن ٤٣ : ٦٣ – ٦٤)

**عبدالله:** خو تهٔ څنګه دا وئيلے شې چې د هر مذهب خلق؟ ما دا سوچ کولو چې صرف عيسايان د عيسیٰ مسيح پيروکار دی.

**اِسمٰعيل:** ځينې خلق په مسيحی کورنئ کښې پيدا شوی وو اؤ هغوئ ته به عيسايان وئيلے کيدل ځکه چې د هغوئ کورنئ يوه مسيحی کورنئ ده، خو د دې دا مطلب نهٔ دے چې هغوئ واقعی په عيسیٰ مسيح ايمان لری اؤ د هغهٔ پيروی کوی. صرف په نوم عيسايان بلل د قيامت په ورځ د هغوئ هيڅ مرسته نهٔ شی کولے، کهٔ چرې هغوئ واقعی په عيسیٰ مسيح ايمان نهٔ وی راوړے اؤ د هغهٔ پيروی يې نهٔ وی کړې اؤ عيسیٰ مسيح يې د الله پاک د رحمت په طور نهٔ وی پيژندلے.

**عبدالله:** نو آيا تهٔ دا خبره کوې چې ټول عيسايان ايمانداران نهٔ دی، ټيک ده کنه؟ نو بيا زهٔ څنګه د عيسیٰ مسيح په يو رښتينی پيروکار کښې اؤ په يو عام پيروکار کښې فرق کولے شم؟

**اِسمٰعيل:** يو رښتينے عيسائی دا ايمان لری چې الله پاک هغه د عيسیٰ مسيح د مرګ د عظيمې قربانئ په وسيله د ګناه د سزا نه خلاص کړے دے. نو د هغوئ دا

ایمان وی چې د خپلو ښو کارونو یا کوششونو په وسیله نه بلکه صرف د الله پاک په فضل اؤ رحم سره هغوئ صادق جوړ شوی دی اؤ ګناهونه یې بخښلے شوی دی. لکه څنګه چې په قرآن کښې وئیلے شوی دی، " هم دے (الله) د یرې لائق دے اؤ د بخښنې اهل دے." (قرآن ٧٤: ٥٦)

د هغوئ دا ایمان وی چې الله پاک د عیسیٰ مسیح په وسیله باندې هغوئ په روحانی طور ژوندی کړی دی. ما په یو ځائ کښې لوستلی وو چې عیسیٰ مسیح وفرمائیل، "څوک چې په دویم ځل پیدا نۀ شی نو هغه د آسمان په بادشاهئ کښې نۀ شی داخلیدلے."

**عبدالله:** تا ته د دې هر څۀ څنګه پته ده؟

**اِسمٰعیل:** مونږ په یوه اسلامی معاشره کښې اوسیږو اؤ زمونږ ډیر ملګری مسلمانان دی، خو د کار په ځائ کښې زما ځینې ملګری د نورو مذهبونو سره تعلق ساتی. زما ځینې ملګری هندوان اؤ ځینې بت پرسته دی. اؤ زما داسې ملګری هم شته چې عیسایان دی. هغوئ ته پته ده چې زۀ مسلمان یم خو بیا هم زما ډیر خیال ساتی اؤ زما عزت کوی. نو کله کله چې مونږ

خبرې کوو، نو صرف د کار په حقله خبرې نۀ کوو، بلکه مونږ د کاروبار، سياست اؤ د روحانی څيزونو په حقله هم خبرې کوو. بهر حال، په دې کښې هيڅ بده خبره نشته چې د يو مسلمان په طور مونږ هغوئ نه د هغوئ د عقيدې په حقله تپوسونه وکړو. په قرآن کښې الله پاک حضرت محمد ته فرمائيلی دی چې د اهلِ کتابو نه تپوس وکړه، کۀ چرې د هغۀ په زړۀ کښې د هغه څۀ په حقله شک وی کوم چې ورته الله پاک ښودلی دی. په دې کښې وئيلے شوی دی، " نو کۀ چرې تۀ د هغه څۀ په باره کښې په شک کښې يې چې مونږ تا ته نازل کړی دی، نو تۀ له هغو کسانو څخه پوښتنه وکړه چې له تا نه مخکښې کتاب لولی، يقيناً ستا د رب له جانبه تا ته حق راغلے دے، نو تۀ هيڅکله هم له شک کوونکو څخه مۀ کيږه." (قرآن ١٠: ٩٤)

**عبدالله:** د عيسايانو په حقله زۀ په دې يوه خبره باندې بلکل نۀ پوهيږم چې هغوئ ولې د دريوو خدايانو عبادت کوی.

**اِسمٰعيل:** ستا څۀ مطلب دے چې عيسايان د دريوو خدايانو عبادت کوی؟

**عبدالله:** ما ته همیشه وئیلے شوی دی چې عیسایان په دریوو خدایانو باندې ایمان ساتی: الله پاک، عیسیٰ مسیح اؤ مریم.

**اِسمٰعیل:** عبدالله، زهٔ ستا په دې خبره باندې بالکل حیران نهٔ شوم. ما به هم مخکښې داسې سوچ کولو. نو یوځل زهٔ یو څو عیسایانو سره ملاؤ شوم اؤ د دې په حقله مې ترې نه تپوس وکړو. هغوئ ووئیل چې عیسایان په الله پاک، عیسیٰ مسیح اؤ روح القدوس باندې ایمان ساتی (په مریم نه).

**عبدالله:** ستا څهٔ مطلب دے؟ خو بیا هم داسې ښکاری چې هغوئ درې خدایان منی؟

**اِسمٰعیل:** ښه، هغوئ ما ته ووئیل چې عیسایان په یو الله باندې ایمان ساتی، خو د حضرت محمد په دور کښې د مذهبی بدعتونو خوروونکې ډلې موجودې وې چې په دریوو خدایانو یې ایمان وو، یا یې دا ایمان وو چې مریم هم یوه معبوده ده. اؤ زما د هغوئ په دې خبره یقین دے چې څنګه موږ د مسلمانانو په طور باندې په یو الله ایمان ساتو نو داسې عیسایان هم په یو الله ایمان ساتی.

**عبدالله:** نو کله چې هغوئ وائی چې هغوئ په الله پاک، عیسیٰ مسیح اؤ روح القدوس ایمان ساتی، نو د دې نه د هغوئ څهٔ مطلب دے؟

**اِسمٰعیل:** ښه عبدالله، کله چې مونږ وایو "بسم الله الرحمن الرحیم:" نو د دې نه زمونږ څهٔ مطلب دے، شروع کوم په نامه د خدائ، چې ډیر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکے دے. نو آیا مونږ وایو چې خدائ، الرحمن، اؤ الرحیم درې جدا خدایان دی یا یو خدائ دے؟

**عبدالله:** نه. صرف یو خدائ دے!

**اِسمٰعیل:** ټیک ده. نو کله چې مونږ د یو کم سلو ښائسته نومونو تلاوت کوو، نو آیا دا مونږ د ډیرو خدایانو عبادت کوو که صرف د یو خدائ؟

**عبدالله:** صرف د یو خدائ!

**اِسمٰعیل:** عبدالله، ستا خبره صحیح ده. د هغوئ په عقیدې باندې د خبرو کولو نه مخکښې مونږ له اول د هغې په حقله زده کړه پکار ده، ګنې مونږ به د هغوئ د عقیدې په حقله غلطې نتیجې ته ورسو.

**عبدالله:** خو ما اؤریدلی دی چې په قرآن کښې داسې ډېر آيتونه دی چې په کښې وئيلے شوی دی چې عيسايان بد اؤ خراب خلق دی.

**اِسمٰعيل:** زما په خيال په دې آيتونو کښې وئيلے شوی دی چې په اهلِ کتابو کښې صرف يو څو کسان داسې دی، دا نۀ دی وئيلے شوی چې ټول داسې دی. په قرآن کښې وئيلے شوی دی، "دوئ يو شان نۀ دی. په اهلِ کتابو کښې يوه ډله ده صادقه، چې د شپې په ساعتونو کښې د الله آيتونه تلاوت کوی اؤ هغوئ سجدې کوی." (قرآن ۳: ۱۱۳)

په يو بل آيت کښې هم داسې وئيلے شوی دی، "اؤ بې شکه ځينې له اهلِ کتابو څخه خامخا هغه څوک دی چې په الله ايمان راوړی، اؤ په هغه کتاب چې تاسو ته نازل کړے شوے دے. اؤ په هغو کتابونو چې دوئ ته نازل کړے شوی دی، چې الله ته عاجزی کوونکی دی. د الله د آيتونو په بدل کښې لږ قيمت نۀ اخلی! دغه کسان چې دی د دوئ لپاره د خپل رب په نيز د دوئ اجر دے. بې شکه الله ډېر **زر** حساب کوونکے دے." (قرآن ۳: ۱۹۹)

**عبدالله:** نو کله چې تهٔ د کار په ځائ کښې خپلو ملګرو سره د مذهبی څیزونو په حقله خبرې کوې، اؤ تهٔ د هغوئ یوې خبرې سره اتفاق نهٔ کوې نو بیا څهٔ کیږی؟ آیا تهٔ غُصه کیږې اؤ هغوئ نه خفه کیږې؟

**اِسمٰعیل:** نه عبدالله. داسې کول به غلط وی. قرآن وائی چې مونږ دې هغوئ سره جګړه ونهٔ کړو. په دې کښې وئیلے شوی دی، "اؤ تاسو له اهلِ کتابو سره جګړه مهٔ کوئ مګر په هغې طریقې سره چې تر ټولو ښه وی...." (قرآن ۲۹: ٤٦)

د دې مطلب دے چې کله مونږ اهلِ کتابو سره خبرې کوو نو پکار دی چې په نرمئ اؤ ښهٔ طریقې سره خبرې وکړو.

**عبدالله:** همم.... د کار په ځائ کښې چې ستا کوم عیسایان ملګری دی نو آیا هغوئ تا سره چرته د عیسیٰ مسیح په حقله خبرې کړی دی؟

**اِسمٰعیل:** آؤ، کله کله. کله چې د ډوډئ وقفه وی یا د چُهټئ نه پس مونږ یو ځائ ځو، نو مونږ صرف د کار په حقله نه بلکه د ډیرو څیزونو په حقله خبرې کوو. د دې نه علاوه، هغوئ سره د روحانی څیزونو په حقله خبرو کولو کښې هیڅ بدی نشته.

**عبدالله:** نو عام طور باندې تهٔ هغوئ سره د کومو څیزونو په حقله خبرې کوې؟

**اِسمٰعیل:** د هرې ورځې ژوند په حقله، لکه د کورنئ اؤ کار په حقله کښې. کله چې زمونږ یو ملګری ته څهٔ مسئله وی اؤ هغوئ غواړی چې د دې په حقله خبرې وکړو اؤ څهٔ مشوره ورکړو. زهٔ همیشه هغوئ له حوصله ورکوم چې د الله پاک په فضل اؤ رحم باندې ایمان ساتئ اؤ هیڅ شک مهٔ کوئ. زهٔ هغوئ ته وایم چې مقدس کتابونه ولولئ نو په دې کښې به تاسو ته د الله پاک هدایت اؤ رڼا ملاؤ شی.

**عبدالله:** نو هغوئ ستا نصیحت قبلوی؟

**اِسمٰعیل:** آؤ، خاص طور باندې هغوئ څوک چې په عیسیٰ مسیح ایمان ساتی اؤ د هغهٔ پیروی کوی. الله پاک هغوئ سره وعده کړې ده چې په ټولو مسئلو باندې به برے ورکوی، په نسبت د غیر ایماندارانو چې بې مدده دی اؤ داسې څوک نشته چې هغوئ ترې نه مدد اخستلے شی. لکه څنګه چې په قرآن کښې وئیلے شوی دی، "کله چې الله وفرمائیل، اے عیسیٰ زهٔ به تا واپس واخلم اؤ خپل طرف ته به دې راوخیژوم اؤ د کافرانو (د تهمت) نه به دې پاک

کړم. اؤ ستا پیروی کوونکی خلق به تر قیامته پورې د منکرانو د پاسه کړم. نو چا چې کفر غوره کړے دے هغوئ له به په دنیا اؤ آخرت دواړو کښې سخته سزا ورکوم". (قرآن ۳: ۵۵ – ۵٦)

**عبدالله:** اِسمٰعیله تهٔ وګوره کنه؟ داسې ښکاری چې باران شروع کیدو واله دے، نو ښه به دا وی چې د باران شروع کیدو نه مخکښې کور ته ځان ورسوو.

**اِسمٰعیل:** عبدالله، ستا خبره صحیح ده. خو کور ته د تلو نه مخکښې زهٔ تا ته دا وئیل غواړم چې د راتلونکی خالی په ورځ مونږ په خپل کور کښې یوه میلمستیا کړې ده. نو کهٔ چرې تا سره وخت وی نو خامخا راشه.

**عبدالله:** دا میلمستیا د څهٔ د پاره ده؟

**اِسمٰعیل:** دا زما د ورور د پاره دے. مونږ غواړو چې خوشحالی وکړو ځکه چې الله پاک د هغهٔ مرسته وکړه اؤ یوه نوې نوکری ورته ملاؤ شوه.

**عبدالله:** ډیر ښهٔ! الحمدالله! څه ټیک شوه بیا به هلته ملاقات کوو. السلام علیکم.

**اِسمٰعیل:** وعلیکم السلام.

❖

**عبدالله:** ستا څۀ خیال دے چې هغۀ واقعی مړۀ خلق بیا راژوندی کړل اؤ کۀ نه دا آیتونه صرف علامتی طور باندې استعمال شوی دی؟

**اِسمٰعیل**: عبدالله، په قرآن کښې آیتونه مونږ ته یو څیز په حقله خبرې نۀ کوی، کیدے شی چې د دې دا دواړه مطلبونه وی: عیسیٰ مسیح واقعی مړۀ خلق بیا راژوندی کړل اؤ هغه خلقو له یې ژوند ورکړو څوک چې په روحانی طور باندې مړۀ دی. بهر حال عبدالله، کۀ چرې تاسره وخت وی نو مونږ بیا چرته په دې باندې خبرې اترې کولے شو. اوس ما له د ماښام عبادت نه مخکښې یو څو کارونه کول پکار دی، نو ښۀ به دا وی چې اوس لاړ شو. آیا تۀ به نن ماښام جماعت ته ځې؟

**عبدالله:** نه. زما په خیال زۀ به په کور کښې خپلې کورنۍ سره دعا کوم. ما له خپل موټر سائیکل هم کتل پکار دی چې هغه ټیک شوے دے اؤ کۀ نه.

**اِسمٰعیل**: ټیک ده، نو بیا به ملاؤ شو.

**عبدالله:** اوه، عبدالله، راروان اتوار دې هیر نۀ شی. تۀ به راځې کنه چې مونږ سره سیل د پاره لاړ شې،

صحیح ده کنه؟ ځان سره کیمره هم راوړه، مونږ به
ښهٔ ډیر تصویران وباسو.

**اِسمٰعیل:** ټیک ده. عبدالله، زما نه به نهٔ هیریږې. السلام
علیکم.

**عبدالله:** وعلیکم السلام.

Download from:aghalibrary.cm